د مقدماتي سروې وروستني پارګرافونه به سرته ورسوئ او د مورد نظر فصل د عالي او ګټورې لوستنې مرحله به پيل شي. دغه پارګرافونه به له تاسې سره د کتاب په طرح او نظم کښې دزده کړې د اصولو په توګه مرسته وکړي، تر څو په دې ترتيب د زده کړې د اغېزمنتيا لپاره خپل د پوهېدنې فکري تمرکز په وده او انکشاف کښې مطلوب بدلون را مينځته کړئ.

اوس نو د دې فصل وروستۍ برخې ته مراجعه وکړئ چې مولف، وسيله د "مقدماتي سروې ته لنډه کتنه" په نوم داسې کار ولې ده چې پنځه ستر ټکي د اوټ لين په شکل په دې مرحله کښې څرګندوي.

- مهرباني وکړئ د لوستلو دغه وظيفه په هغې طريقې سره چې يې يادونه شوې ده، سرته ورسوئ. که چېرې د لوستلو وظيفه په يوه فصل پورې مربوطه وي د هغې لومړي او وروستي پارګرافونه او که په څو فصلونو پورې مربوطه وي همدې موضوع ته تر پايه دوام ورکړئ.

تمرينونه: د کتاب د يوې برخې لومړي پارګرافونه به تاسې ته څه- څه وايي؟

.........................................................................

د کتاب د فصل وروستي پارګرافونه به تاسې ته څه- څه وايي؟

.........................................................................

## څلورمه وظيفه:

مصور وسايل او څرګندې شوې نخښې مطالعه کړئ. په مقدماتي سروې کښې بله مرحله دا ده چې د کتاب ټول تصويرونه، فهرستونه، نقشې، چارټونه او اوټ لين وګورئ. په دوهمه وظيفه کښې د يو مقدماتي اوټ لين مثال د خطي څرګندونو او توضيحاتو په شکل دي. زياتره درسي کتابونه د هر فصل په پای کښې، هغه توضيحات لري چې مولف يې مهم ګڼي. بله مرستندويه مطالعه چې د خپلو لوستل شويو موادو په لړ کښې يې تر لاسه کوئ په لوستل شوې موضوع باندې د پوهېدنې لپاره يوه بله مرستنه ده. اوس د دويم ځل لپاره درې ماده يې مصور يا برجسته کومکي عنوانونه پر دغو خطونو د پاسه وليکئ.

.........................................................................

د پام وړ ځېرکي ستر او مهم مفاهيم پر دغو هر يوه وسايلو کښې توضيح شوي دي.

.........................................................................

## پنځمه وظیفه:

له هغو شیانو سره چې تر اوسه مو زده کړي دي، آشنا شئ. کوښښ وکړئ په یاد راولئ چې د فهرست، کوچنیو عنوانو، د هر یو مورد نظر لومړي او څو وروستي پاراګرافونو او لویو برجسته جملو له لوستلو څخه مو څه زده کړي دي.

هغه څه چې تاسې له دې فصل څخه زده کړي دي عبارت دي له:

د یو درسي کتاب د متن په لوستلو کښې د ماهرانه تسلط موندنې له تخنیکونو څخه څه ډول استفاده وشي. او دغه موضوع په څلورو مرحلو کښې توضیح شي چې هغه عبارت دي له : مقدماتي سروې، لوستل، نوټ او یادداشت اخیستل او ذهن ته سپارل. په مقدماتي سروې کښې لازمه ده لوستونکی د متن د برخو فهرست او د مقدماتي اوټ لین جوړول، مقدماتي لوستنه او د پاراګرافونو لنډیز او له برجسته جملو څخه استفاده چې په هغو کښې مهم او عمده مفاهیم راغلي دي او د هغو شیانو فهرست چې پرې پوهېږي، خلاصه کېږي.

په دغه ډول اصولو او تخنیکونو کښې دا څرګنده ده چې تاسې بې له سیستماتیکې مطالعې او لوستنې څخه د موضوع په هکله ډېر څه زده کړي دي. په داسې حال کښې چې په مقدماتي سروې باندې ستاسې تیر شوی وخت به له پنځو یا لسو دقیقو څخه زیات نه وي. هغه شیبه چې تاسې په مقدماتي سروې کښې تېروئ تاسې وروسته سیستماتیکې لوستنې ته داسې چمتو کوي چې ګوندې تاسې یو ځل د کتاب د متن هغه برخه، چې لولئ یې، په پرله پسې توګه کتلې وي. تاسې په ډېرې چټکۍ سره کولی شئ د کتاب کرښې وګورئ او په هدفمنه توګه د هغې تسلسل حافظې ته وسپارئ. اوس نو له خپل ځان سره محاسبه وکړئ چې تاسې د دې فصل له لوستنې څخه چې اوس ستاسې د سترګو په وړاندې دی، کوم- کوم شیان زده کړي دي. یوه پاڼه کاغذ راواخلئ او پر هغې ولیکئ* کوښښ وکړئ چې د فهرست په بڼه په لنډه توګه ولیکئ. او یا یې له خپل ځان سره په فکري عملیه کښې د خپلې حافظې په مرسته تکرار کړئ.

مقدماتي سروې ته لنډه کتنه:

١ د کتاب د موضوعاتو فهرست په غور سره ولولئ.

٢ د کتاب د فصل د برخو عنوانونه وګورئ او مقدماتي اوټ لین برابر کړئ.

---

* د موضوع نوم، د کتاب عنوان، مؤلف، د موضوعاتو فهرست، د فصل لنډیز او لوستونکی ته د مؤلف د وینا هدف.

۳ د هماغه فصل لومړني او وروستي څو پاره ګرافونه (دوه يا درې) ولولئ.
۴ توضيحي مرستندويه مواد او برجسته جملې مطالعه کړئ.
۵ له خپل ځان سره په فهرست واره توګه محاسبه وکړئ (هغه څه چې مو زده کړي دي په فهرست واره توګه يې له ځان سره محاسبه کړئ).

## له درسي کتاب څخه استفاده

د يو درسي کتاب په لوستنه کښې ماهرانه تسلط موندنه:

د دې لپاره چې موضوع يا د د درسي کتاب يوه برخه په بريالۍ او اغېزمنه توګه مطالعه کړو لازمه ده چې تر هر څه دمخه د هغې په باره کښې په فعاله او ژوره توګه فکر وکړو. هغه څه چې له لوستنې او مطالعې څخه تر لاسه کېږي تر يوې اندازې پورې ستاسې په پخوانۍ تجربې او د کار په پلان پورې ارتباط لري. په پخوانۍ تجربه کښې علايق، ذوقونه، پوهه، ذکاوت او د کنجکاوي حس شامل دي. تاسې بايد د مطالعې او لوستنې په پلان کښې دغودوو سترو ټکو ته پاملرنه وکړئ:

لومړی د عمده او مهمو مفاهيمو موندنه او ټاکنه او د عمده کلمو او لغاتو د ريکارډ ساتنه او دويم د داسې پوښتنې طرح کول چې د لوستلو په جريان کښې بايد د مطالبو د پيدا کولو د لارښود په توګه په پام کښې ونيول شي. په دغه فصل کښې د لوستنې کړنلاره په دوو سترو او د پاملرنې وړ ساحو وېشل شوې ده چې يوه يې د لغاتو د زياتوالي او انکشاف او بله په ذهن کښې موجودو پوښتنو ته په پام لرنه د کلمو لوستنه ده. کله چې فعاليتونه په ماهرانه توګه په مطالعه کښې تسلط ومومي او د مطالعې د عادتونو يوه برخه وګرځي، په همدغه وخت کښې ده چې دغه دوه ساحې يعني د لغاتو زياتوالی او انکشاف او د لوستلو په وخت کښې په ذهن کښې د پوښتنو طرح کېدل، به سره يو ځای او په ګډه کار کوي.

د لغاتو لوستلو ته د هغو د انکشاف او پرمختګ په خاطر زياتوالی ورکړئ. څېړنو ښودلې ده چې د لغاتو او اصطلاحاتو زياتوالی د لوستنې په چټکوالي کښې ستر او عملي رول لري. په لوستنه کښې له داسې لغاتو سره مخامخ کېدل چې په معنا يې نه پوهېږئ ستاسې د لوستنې د چټکوالی په کموالي کښې هم تاثير لري. کله چې له داسې لغت يا کلمې سره مخامخ شئ چې په معنا يې پوه نه شئ ښايي داسې وشي چې هغه حذف کړئ او يا دا چې لوستلو ته دوام ورکړئ، خو دا چې د هغې کلمې د معنا د نه پوهېدو له امله له جملې څخه پوره مفهوم نه شئ تر لاسه کولی په خپل ځان کښې د ستړيا او ترد د احساس

کوئ. په همدغه وخت کښې تاسې ته د موضوع هماغه برخه مشکله او له ستونزو ډکه معلومېږي او تاسې غواړئ چې تکرارا يې ولولئ او ان تر دې چې عقب ګرايي ته مو اړ باسي.

او يا هغه لغت په قاموس کښې لټوئ او يا دا چې له بل چا څخه يې پوښتنه کوئ، چې دادواړه طريقې هوښيارانه دی، خو وخت غواړي له همدې ځايه په څرګنده توګه معلومېږي هر څومره چې په زياتو لغاتو او کلمو پوه شئ په هماغه اندازه ستاسې د مطالعې چټکوالی لوړېږي او په دې کار کښې لږ وخت ته اړتيا لرئ.

په دې ځای کښې له تاسې څخه غوښتل کېږي چې د خپلې لوستنې د عمليې له مخکينی تجربې څخه داسې مثال راوړئ چې په هغې کښې له داسې لغت يا کلمې سره مخامخ شوي يا ست چې په لوستنه کښې ستاسې د سستوالی، څنډ او خنډ سبب ګرځېدلی وي.

مضمون: ..............................................................

درسي کتاب: ........................................................

لغت: ...................................................................

هغه جمله چې لغت پکښې موجود و: ........................................

مهرباني وکړئ په يوه جمله کښې د يو لغت د نه پوهېدنې په اثر د لوستنې په عمليه کښې د سستوالی وخت ريکارډ کړئ. او هغه وخت چې له هغه لغت نه بې د معنا پوهېدلو څخه تيرېږئ په خپل فکري تمرکز او توجه کښې وروسته را منځته کېدونکی مشکلات اټکل او ريکارډ کړئ.....................................

او هغه وخت چې هماغه لغت په قاموس کښې لټوئ هم ريکارډ کړئ.........................

او يا دا چې هغه له بل چا څخه پوښتئ .....................................

بالاخره د دغو څلورو پېښو وخت مقايسه او پر تله کړئ. وګورئ چې هماغه ستاسې مورد نظر موضوع په لوستنه کښې وخت په کوم تناسب دی. اوس نو پنځه هغه وظيفې چې د لوستلو په وخت کښې ستاسې د لغاتو د ذخيرې په زياتوالي او انکشاف کښې په اغېزمنه توګه مرسته کوي، تمرين کړئ.

## لومړۍ وظيفه:

نوي او نامانوس لغات دې د لوستنې په جريان کښې بېرون نويس شي. د يو زده کوونکي يا يو شاګرد په توګه نامانوسې کلمې او لغات په پرله پسې توګه يادداشت کړئ.

ايا له دې ډول کلمو څخه خبرتيا لرئ او که غواړئ له هغو نه سترګې پټې کړئ؟ په جمله کښې د نا مانوس او هغو کلمو يا لغاتو نه چې په معنا يې نه پوهېږئ، ور څخه تېرېدل او يا حذفول سم کار نه دی او د لغاتو د زېرمې په پراختيا کښې هم مرسته نه کوي. د مطالعې په جريان کښې دنا اشنا کلمو يادداشت کول او د لغاتو د ذخيرې پراختيا ستاسې پوهه زياتوي. که چيرې د نا اشنا لغاتو او کلمو يادداشت اخيستنه تاسې ته نوې وي، مهرباني وکړئ پخپلو درسي کتابونو کښې د نويو او عجيبو اصطلاحاتو پيدا کول او يادداشت کول پيل کړئ. تر څو چې د نويو کلمو د زده کولو او ليکلو په ارتباط ستاسې کار په عملي توګه پيل شي.

تاسې د کتاب د مقدماتي سروې د فصل د لوستلو پر وخت وليدل چې د يو درسي کتاب مولف څه ډول د مهمو او برجسته کلمو يا ايتاليک حروف [1] ليکلو په وسيله د يوې جملې لاندې د خط په کش کولو سره د لوستونکي پام مهمو ټکو ته را اړوي. د مثال په ډول دغه جمله چې له يو درسي کتاب څخه راخيستل شوې ده له نظره تېره کړئ: "د ځمکې پخوانۍ لويې ډبرې ازرين دي" دلته د داسې يوې جملې مثال راوړئ چې نامانوسې کلمې برجسته او ايتاليک شکل ولري، د هغو کلمو لاندې خط وکاږئ.

.................................................................

## دويمه وظيفه:

له قرينو څخه د مفاهيمو تر لاسه کولو طريقه زده کړئ. تاسې نشئ کولی په کلي توګه په قرينو تکيه وکړئ، ځکه چې ځينې وختونه قرينې د دې ډول قياسونو زمينه او لارې چارې برابروي چې تاسې له سم او اصلي مفهوم څخه بې لارې او منحرف کړي.

په هر حال د لغاتو د ذخيرې د پراختيا او انکشاف لپاره لازمه ده چې پرته له قرينو څخه نور د ازاد استنتاج مهارتونه را مينځته کړئ چې مفهوم يې پخپله ستاسې له خوا د قرينو په ارتباط د ځينو کلمو پيدا کول دي.

دې جملې ته وګورئ: " تور تم د تشخيص ورنه و، نو هغه ځکه ګوګر د ولګاوه." که چېرې تاسې د "تشخيص ور" په مفهوم پوه نه شئ، په هغه وخت کښې به له پاتې جملې څخه داسې نتيجه واخلئ چې تورتم ډېر تياره و. البته دغه ډول نتيجه اخيستل سمه نه برېښي. خو له قرينې نه د هغې مفهوم تقريبي دی نه اصلي او دقيق. هر کله چې له يو

[1] په هر چاپ کښې مات (شکست) او د پام را ګرځونې حروف دي چې له نورو حروفو او کلمو څخه فرق لري.

نامانوس لغت سره مخامخ شوئ، ښه لاره دا ده چې وروستنئ څو کرښې يې هم ولولئ، څو وپوهېږئ چې مولف هغه توضيح کړې ده که نه؟

لاندنيو جملو ته متوجه شئ چې د "بدنامی" کلمه څه ډول (په رسوايی) توضيح شوې ده: "په هغه ځای کښې زه د هم صنفيانو په وړاندې په ټوله بدنامی او رسوايی ولاړوم چې په خپل ژوند کښې له دغه ډول رسوايی سره نه وم مخامخ شوی."

تاسې به په تمامه معنا له دويمې جملې څخه پوه شئ چې "بدنامي" څه ډول په رسوايی او توهين سره توضيح شوې ده.

د لاندنيو جملو عمومي مفهوم پر هغو لغاتو باندې د پوهېدنې له پاره چې تـرې لاندې خط کښل شوی دی، وکاروئ. د تمرين له بشپړولو وروسته نا مانوس لغت په قاموس کښې پيدا کړئ او سره مقايسه يې کړئ.

١. حسابی صلاحيت لرونکی د نويو مقرر شويو د معاش د زياتولو په اړه ډېر سخت دريځی دی، هغه به په دې باره کښې تخصيص پيش بينی نه کړي، امکان لري د سر سختی او سخت دريځی معنا په ځانګړی موضوع کښې نه موافقت وي.

٢. د نورو بازونو پر خلاف، شاهينونه کوچنی سر، لنډ وزرونه او اوږده لکی لري. شاهين يو ښکاري مرغه دی.

٣. هېڅوك د دغسې با زرق و برقه ورځپاڼې په له منځه تللو نه خواشيني کېږي. ځکه چې عنوانونه يې تيرايستونکي او متن يې له شرمه ډك، کمزوری او بې ارزښته و. امکان لري د زرق و برق مفهوم تيرايستونکی او منځ پوچی وي.

## دريمه وظيفه:

د نويو لغاتونو د معنا او مفهوم د پيدا کولو لپاره له قاموس څخه استفاده وکړئ. کله چې ونه شئ کړای چې د نامانوس لغت معنا د قرينې له مخې پيدا کړئ فرهنګ ته مراجعه وکړئ. ځکه چې فرهنګ ستاسې د مطالعې له مهمو وسيلو څخه ګڼل کېږي. لاندينی جمله ولولئ او د معنا په هکله يې فکر وکړئ: "د يو ملت تصميم او خود اراديت د هغه ملت د پرمختګ او انکشاف معيار جوړوي" له هغه څه نه چې له پورته جملې څخه پوه شوي ياست پرته له دې چې قاموس ته مو مراجعه کړې وي په خپلو کلمو او عباراتو لاندې وليکئ: ..........................

کله چې مو د خود اراديت معنا په قاموس کښې د معيار په کلمه پيدا کړه سم تعريف يې په يوه جمله کښې تشخيص او وکړئ. حتی که د هغې معنا مو دمخه زده هم وي بيا يې

هم په قاموس کښې یې په وګورئ. څو پوه شئ چې د هغې په هکله ستاسې فکر تر کومه حده رښتینی او څرګند دی. "خود ارادیت" په قاموس کښې د خپلواکۍ (خود مختارۍ) او "معیار" د میزان، ملاك او مقیاس په معنا راغلی دی. په پورتنۍ تر بحث لاندې جمله کښې "خود" د تعریفونو او توضیحاتو په اثر پیدا کړئ. د دې کار په جریان کښې به ووینئ چې د هماغه مخکینۍ موضوع په اړه له نویو شیانوسره مخامخ شئ.

که چېرې وروستنۍ جملې د هماغه مخکنیو جملو په باره کښې ولیکئ ښه او غوره به وي. د دې لپاره چې اوس د لغت یا کلمې په اصلي معنا او مفهوم پوهېږئ، مفاهیم به په ژوره توګه ستاسې په حافظه کښې پاتې شي.

اوس پورتنۍ جمله یو ځل بیا ولیکئ، چې داسې به وي:

" د یو ملت خود مختاري (خپلواکي) د هغه ملت د پرمختګ او انکشاف معیار او اندازه څرګندوي."......................................

کله چې د خپل نظر وړ لغت د پیدا کولو له پاره فرهنګ بېرته کوئ، لازمه ده چې د هغه لغت بېلا بېلې معناوې له مربوطه متن سره په مقایسه کولو له نظره تېرې کړئ او د هغې ډېره مناسبه معنا انتخاب کړئ.

د مثال په توګه داسې فرض کړئ چې په لاندینۍ جمله کښې د لغت مفهم (خطي نسخه، دستخط اصل مستند) داسې کارول شوي دی:

د نمایشنامې د پردو ماهرانه تنظیم او کنترول به ډېر لږ موثر وي که چېرې سکریپټ Script سترې کوونکی وي. که چېرې د نمایشنامې د متن لیکنه بې مفهومه وي د هغه نمایش ډایریکټ Direct او رهبري به په استادانه توګه معناونه لري. راشئ چې دا لغت په فرهنګ کښې ولټوو او له متن سره په ارتباط کښې د هغه سمه معنا پیدا کړو. د فرهنګ د کلماتو په ستون کښې لاندیني کلمات لیکل شوي دي:

۱. اسناد
۲. د لیکلو سیستم
۳. د لیکلو تقلیدي شکل
۴. د نمایشنامې کتاب یا سینما
۵. د دسختط لنډیز، خطي او قلمي کتاب

څلورمه شمېره پکښې چې د سینما او نمایش کتاب په معنا دی، سمه او درسته ده. پنځه لغتونه چې په ( ) مخ کښې یې د درسي کتاب په ارتباط یادونه شوې ده، ولټوئ، د لغت مناسبه معنا چې په متن کښې مطابقت مومي، په دې ډول دې بیرون نویس شي:

| تعریف | لغت | مخ |
|---|---|---|
| | | |
| | | |
| | | |

## څلورمه وظیفه:

نا مانوس لغات دې را ټول او ریکارډ کړای شي. کافي نه ده چې نا مانوس لغات په نخښنه او له نظره تېر کړو، بلکه لازمه ده چې هغه را ټول او په کتابچه کښې یادداشت او یا په کارتونو کښې ولیکو او ثبت یې کړو.

د نا مانوسو لغاتود ثبت او یادداشت کولو له یو شکل سره چې په دریمه وظیفه کښې د هغې د څرنګوالی په هکله پوهېږئ په ستونونو کښې، لکه د لغت د استعمال شوي معنا ستون چې باید په خپلو الفاظو او عباراتو د هغې په هکله څه ولیکئ، تر څو دهغې اصلي مفهوم ستاسې په یاد او حافظه کښې پاتې شي. ستونونه په دې ډول دي:

| نور مهم او عمده مفاهیم یې څه دی | په کوم مفهوم استعمال شوي دي | په هغه جمله کښې چې استعمال شوي دي | لغتونه |
|---|---|---|---|
| | | | |
| | | | |

که چېرې غواړئ چې د نامانوسو لغتونو مفاهیم د یادداشت کتابچې پر ځای په کارتونو کښې ترتیب کړئ باید څو پاکټه کارتونه Cards له ځان سره ولرئ چې د کتاب د انډکس د کارت د (۲×۳) انچه په اندازه فایل هم ولري چې کارتونه پکښې وساتئ. ښه به وي چې په هرکارت یو یا څو نامانوس لغتونه ولیکئ. دا لاندې د هماغه کارتونو یوه نمونه ده:

> خود مختاری: یوه اصطلاح ده چې په سیاست کښې استعمالېږي او معنا یې دا ده چې یو ملت د خپل داخلي سیاست د ټاکلو صلاحیت لري.

## پنځمه وظيفه:

نوي لغتونه وکاروئ او تکراريې کړئ.

ستاسې بله وظيفه داده چې نوي لغتونه د ښې او زياتې پوهيدنې لپاره په تکراري توګه استعمال کړئ. په همدغه وخت کښې به پخپله د هغو د استعمال او تلفظ په اثر روحي تسکين او ارامي درته پيدا شي او په راتلونکې کښې چې هر څوك دغه ډول کلمې استعمال کړي تاسې به يې پر مفهوم پوهېږئ.

نوي لغتونه په ليکلو جملو کښې هم وکاروئ. د مثال په توګه که چېرې مو دا زده کړي وي چې يو متن ته څه ډول پخپلو کلمو سره انکشاف ورکړئ په هماغه ډول نوي لغات پخپلو کلمو سره، خو په خپل مفهوم وکاروئ. څو چې هغه مو په ذهن کښې ښه کښېني.

اوس د همدې فصل چې فعلا يې لولئ د هغو نامانوس لغتونه په دې شکل انتخاب او وکاروئ:

لغت: ..............................

هغه جمله چې په هغې کښې لغت په شفاهي توګه استعمالېدلی شي..............................

هغه جمله چې په هغې کښې لغت په ليکلي (تحريري) توګه استعمالېدلی شي..............................

نوی لغتونه بايد تر هغې اندازې تکرار شي چې ښه په ذهن کښې کښېني هغه لغتونه چې تاسې يې په اسانۍ سره تکرار کولی شئ (وبه وينئ چې کولی شئ چې زيات شمېر لغتونه سمدلاسه تکرار کړئ) نور تکرار ته اړتيا نه لري. مګر هغه چې تکرار ته اړتيا لري هغه له پورته وظيفو سره سم په جملو کښې وليکئ. بل ښه تمرين دادی چې په کارتونو کښې داخل او يا په هفته وار يادداشت کتابچې کښې ليکلي لغتونه له نظره تېر او تکرار کړئ څو چې زده شوې کلمې مو نورې هم ښې زده شي. البته دستور العملونه او کړنلارې مختلفې دي. خو يو له هغو څخه دادی چې هر نوی او نا مانوس لغت په يو تمثيلی او با

مسمی نوم سره یو ځای او استفاده ورڅخه وکړئ چې ښه مو زده شي. په دغه ډول تمرین او طریقې سره به زموږ د لغتونو په ذخیره کښې چټك زیاتوالی راشي.

## باید د لوستلو وظیفې له پوښتنو سره یو ځای کړو

د لوستلو په هکله څېړنو ښودلې ده چې که چېرې لوستل هغو پوښتنو ته د ځوابونو د پیداکولو له پاره، چې په لوستلو کښې ستاسې په ذهن کښې ګرځي، تر سره شي د هغو لوستلو په نسبت چې څو پراګرافونه یې د پوښتنې له طرح کېدو څخه ولوستل شي، ښه او غوره نتیجه لري. هر کله چې تاسې په مورد نظر موضوع کښې د لوستنې دې مرحلې یعنې "لوستنه د پوښتنې طرح کېدو او هغه ته د ځواب پیدا کول" ته ورسېږئ دا نو بیا هغه وخت دی چې په تاسې کښې د لوستنې وړتیا او کفایت انکشاف کړی دی.

### لومړی وظیفه:

پوښتنې په لوستنه کښې د لارښوونې لپاره مطرح کړئ. کولی شئ د یو فصل کوچنې عنوانونه، چې معمولاً یو فصل په څو برخو ویشي، د پوښتنې په توګه طرح کړئ. هر کله چې له کوچنې عنوان سره مخامخ کېږئ کوښښ وکړئ چې هغه د یوې پوښتنې په توګه مطرح کړئ چې ستاسې د مطالعې د هدف ټاکنې سبب وګرځي. په دغه صورت کښې د ځواب د پیدا کولو په هکله فکر له تاسې سره دا مرسته کوي هغه څه چې لولئ یې ښه پرې پوه شئ.

په یو شمېر کتابونو کښې کوچنې عنوانونه لږ وي. په دغسې شرایطو کښې لازمه ده چې د پراګرافونو څو لومړۍ جملې ولوستل شي چې د هغو جملو له منځ څخه عنوان پیدا کړو. په ځینو کتابونو کښې نه واړه عنوانونه وي او نه داسې جملې چې د عنوان ټاکونکي وي. په هغه صورت کښې لازمه ده چې د هماغه فصل مخکنیو موضوعاتو ته مراجعه وشي څو معلومه شي چې څه ډول کولی شو پوښتنې د هغو د ځوابونو د پیدا کولو لپاره مطرح کړو. د هغو په ارتباط د لوستلو وظیفه، چې باید په څو راتلونکو ورځو کښې سرته ورسېږي. تر هر څه لومړی درې عنوانونه لست کړئ او هر یو عنوان د پوښتنې په توګه طرح

PROPERTY OF ACKU

# سریزه

د یو فرد د ښووني او روزني پیل او پای د هغه له ټولنیز او طبیعي چاپېریال سره د اړیکو په جریان کښې سرته رسي. په ساده کلیوالو ټولنو کښې چې اولادونه له خپلو پلرونو سره د کرنې، مالدارۍ او ښکار په چارو کښې برخه اخلي، د هغوی د اجتماعي کولو وظیفه د والدینو پر غاړه ده. خو هر څومره چې ټولنه او ټولنیز ژوند پیچلی کېږي، دا وظیفه زیاته ټولنیزو مؤسسو، لکه وړکتونونو، ښوونځیو، پوهنتونونو او داسې نورو ته پرېښودل کېږي. که څه هم د ښه ژوند کولو لپاره لازم درسونه او له علومو سره آشنایي په کوچنیوالی او ځوانۍ کښې زده کېږي، خو د دوامدارې زده کړې له لارې اجتماعي کېدنه یو دوام لرونکی کار دی. په ځانګړې توګه په هغې ټولنې کښې چې د یو چټك بدلون او پرمختیا په بهیر کښې واقع شي، په دې صورت کښې نو بیا د ټولنې د هر وګړي لپاره نوې او تازه زده کړې ضروري ګڼلې کېږي، څو د ټولنیزو بدلونو او د وخت له عصري ټکنالوژۍ سره ځان هم ګامه کړي. همدارنګه د ژوندانه له بېلا بېلو پړاوونو تېرېدل شخص ته د نویو نقشونو زېرې ورکوي چې په دغه هر پړاو کښې د نویو او تازه زده کړو اړتیا احساس کېږي. د ژوند مفهوم له طبیعت سره مقابله او مبارزه ده او په دې مقابله او جګړه کښې هغه څوك بریالي کېږي چې په ټولنیز میراث پورې مربوطو معلوماتو او ممکن مهارت څخه برخمن وي. هغوی چې ځراغ او لوری ښودونکي (قطب نما) یې په لاس کښې وي نسبت نور وته نا معلوم لوري ښه او ژر معلوموي، د معلوماتو تر لاسه کولو، د علمي قوانینو، فرهنګي ارزښتونو او د فردي اړتیاوو لپاره د علمي مهارتونو د زده کړې لارې چارې برابرولو، چې فرد وکړای شي د خپل ممکنه توان پر اساس په ټولنه کښې خپل نقش تر سره کړي، له درې ډوله تعلیماتو او ضروري زده کړو څخه استفاده کېږي:

## ۱.غیر رسمي ښوونه او روزنه (Informal Education):

ځاني زده کړه یا پخپله زده کړه د پوهې او زده کولو هغه دوامداره او همیشنۍ پروسه ده چې د هر فرد د ژوندانه له الفبا، د کورنۍ او کار د چاپېریالونو، لوبو، دوګړو د

کړئ او ځوابونه یې تر لوستلو وروسته د هرې یوې پوښتنې په مقابل کښې په لاندې ډول ولیکئ:

د درسي کتاب نوم: ..............................................

د فصل عنوان:..............................................

مخونه: ..............................................

| د کتاب عنوانونه | پوښتنه یا طرحه شوې پوښتنې |
|---|---|
| ۱............................................ | ............................................ |
| ۲............................................ | ............................................ |
| ۳............................................ | ............................................ |

## دویمه وظیفه:

د خپلو پوښتنو د ځوابونو پیدا کولو لپاره لوستل پیل کړئ. د لوستلو په جریان کښې د هغو ځوابونو په لټه او هڅه کښې اوسئ چې ستاسې له طرحه شویو پوښتنو سره اړه پیدا کوي.

د لوستنې په دغه طریقه کښې یوازې دا منظور نه دی چې د طرح شویو پوښتنو ځوابونه ولټول شي، بلکه د کتاب د متن ټول جزئیات دی هم ولوستل شي، خو زیاته پاملرنه او تمرکز دې هماغه عمده او مهمو ټکیو ته وي، ځو چې د پوښتنې د تکمیل او د ښه مناسب ځواب موندنې سبب شي.

اوس نو خپل درې واړه طرح شوې پوښتنې ولولئ او بیا لوستل پیل کړئ او د لوستلو په جریان کښې د هغو دریو پوښتنو د ځوابونو په لټه کښې اوسئ. په پوره حوصله او فکري تمرکز اصلي او احتمالي ځوابونه پیدا کړئ.

## دریمه وظیفه:

د ځوابونو په لوستلو سره د خپلې پوهې او تشخیص اندازه محاسبه کړئ. د هرې پوښتنې د ځواب له پیدا کولو څخه وروسته هغه په ترتیب له خپل ځان سره تکرار کړئ، څو چې هغه په ښه او غوره توګه په پوره اطمینان سره زده او حافظې ته وسپارل شي.

اوس نو د هغه څه تکرار چې د خپلو پوښتنو د ځوابونو په ارتباط مو لوستلي وي، هغسې چې پوښتنې مو طرحه کړې دي داسې ولیکئ:

..............................................................................

عنوان یا لومړی سرلیک:

.................................................................

عنوان یا دویم سرلیک:

.................................................................

عنوان یا دریم سرلیک:

.................................................................

## څلورمه وظیفه:

د اړتیا او ضرورت په وخت کښې خپله لوستلې موضوع یو ځل بیا ولولئ. که چېرې مو دا احساس کړه چې ستاسې پوهه د موضوع د یوې برخې په هکله نیمګړې ده، ښه او غوره داده چې هغه په تکراري توګه ولولئ او نوې پوښتنې او ځوابونه د هماغو پوښتنو او ځوابونو په ارتباط په تعدیلي شکل تر هغه چې متیقین شوي نه یاست، ولولئ.

# د لغاتو په ذخیره کښې د لوستلو ونده (وظیفه)

۱. نوي او نامانوس لغتونه بیرون نویس کړئ.
۲. د لغتونو مفاهیم او معناوې د متن له قرینې څخه پیدا کړئ.
۳. د نویو لغتونو د پوهېدنې لپاره له فرهنګ څخه استفاده وکړئ.
۴. نوی لغتونه تکرار او په جملو کښې استعمال کړئ.

## لوستل او د پوښتنو طرح کول

۱. د لوستلو په جریان کښې پوښتنې طرح کړئ.
۲. ولولئ، تر څو پوښتنو ته ځواب ووائئ.
۳. ځوابونه له ځان سره تکرار کړئ.
۴. که چېرې متیقن شوي نه یاست بیا یې ولولئ.

# نوټ اخیستل "یادداشت"

نوټ اخیستل د مطالعې او زده کړې له هنرونو څخه دی، نو لازمه ده چې هغه د یو فن یا هنر په توګه یاد کړو. زیات شمېر زده کوونکي د مطالعې په وخت کښې په نوټ اخیستلو ډېر وخت تېروي. هغوی نوټ په مشرحه او مجمله توګه اخلي او یا بهتره ده وواېو چې هر شی نوټ کوي، ځنې بیا داسې احساسوي دا چې نوټ اخیستل ډېر وخت نیسي هېڅ نوټ نه اخلي. خو ښه او لایق زده کوونکي د اړتیا په وخت کښې نوټ اخلي او هر زده کوونکی او محصل باید په ماهرانه او اغېزمنه توګه له لوستلو او غوږ نیولو څخه نوټ واخلي.

هغوی باید کلیدي مفاهیم، لنډې جملې او مهمې نظریې د لوستلو په وخت کښې نوټ کړي.

اوس نو تاسې وواياست چې د کومو دلایلو له مخې باید نوټ واخیستل شي؟

..............................................................

وروسته بیا ویل شوي دلایل له لاندنیو دلایلو سره مقایسه کړئ:

١. نوټ اخیستل تاسې دې ته اړ کوي چې د عمده او مهمو حقایقو او مفاهیمو په لټه کښې اوسئ او مهم او لږ مهم ټکي تشخیص او مفاهیم یې یادداشت کړئ.

٢. نوټ اخیستل تاسې سره دا مرسته کوي چې په مطالعې او لوستلو کښې ستاسې مینه، دلچسپی او علایق ژوندي پاتې شي. د یو پنډ او ضخیم کتاب لوستل او یا د دوامدارې مطالعې کار به له نوټ اخیستلو او لنډیز کولو څخه پرته تاسې ته ستړی کوونکی وي.

٣. نوټ اخیستل به له تاسې سره دا مرسته وکړي چې په یو ځل کتلو پوه شئ چې د کتاب مؤلف او لیکوال څه شی ویل غواړي. نو نوټ اخیستل به تاسې ته دا امکان در کړي چې د لیکلوال وینا له ورځو، میاشتو او حتی د یو کال له تېرېدو څخه وروسته هم د هغو په لوستلو سره حافظې ته راولئ.

۴. نوټ اخیستل ستاسې د زده کړې کفایت او وړتیا زیاتوي. ځکه چې نوټ اخیستل هم د لوستلو او تکرارولو یو شکل دی.

که چېرې تاسې لوستل له ځان سره په پوښتنه کولو او تکرارولو سره پیل او په همدې ترتیب نوټ واخلئ ستاسې د زده کړې اغېزمنتیا به ښه او د مطالعې کار به مو په زړه

پوري شي. برسېره پردې په دغه ډول فعالیتونو کښې تنوع ستاسې دماغ او ستاسې د زده کړې د فکري آخذې او جذب قوه زیاتوي.

۵. بالاخره نوټ اخیستل به نا محدودې مرستې ستاسې په واك کښې در کړي او آزموینې ته د چمتو والي لپاره به هم تاسې ته د ستاینې وړ اسانتیاوې برابرې کړي. ځکه چې تاسې به بیا مجبورنه یاست چې لوستل شوي فصلونه بیا ولولئ. که چېرې د فصلونو لنډیز له تاسې سره وي په چټکتیا سره یې لوستلی شئ او مطالعه به مو له مخکښې څخه ډېر ښه او بشپړه ترسره شي. امکان لري درسي کتاب په مکرره توګه ولولئ خو دالوستل به محض ستاسې مخکینې معلومات، چې نوټ مو اخیستی دی، نوي کړي نه دا چې هغه په ډېر وخت کښې په دقیقه توګه مطالعه کړئ.

## لومړۍ وظیفه:

حقایق او مهم مفاهیم په خپل ابتدایي اوټ لین کښې بېرون نویس کړئ. له لوستلو او زده کولو څخه وروسته سمدلاسه هغه حقایق او مفاهیم چې په ځانګړې توګه ستاسې په نظر مهم برېښي، د مقدماتي سروې لپاره یې په خپل ابتدایي اوټ لین کښې راواخلئ. البته ستاسې نوټ به په مشرحه توګه ټول معلومات نه لري، خو د یو اوټ لین په جوړولو کښې به مرسته وکړي. دغسې لنډ نوټ به د یادوونکو نخښو په توګه په مقدماتي سروې کښې تاسې ته اسنتیاوې برابرې کړي.

د نوټ اخیستلو په وخت کښې لاندیني څلورټکي په پام کښې ونیسئ:

۱. هغه لغات او جملې چې د مفاهیمو دکلي حیثیت لري، باید یادداشت شي.

۲. مفاهیم پخپلو الفاظو او جملو کښې راولئ، ځکه چې که چېرې غواړئ هماغه متن د دویم ځل لپاره پخپلو الفاظو او کلمو کښې راولئ، په هغه وخت کښې یې له مخکښې څخه ښه زده کوئ.

۳. که چېرې امکان لري خپل نوټ د کتابچې پر یو مخ کښې ولیکئ، هغه زده کوونکي چې ځانونه یې په دې سبك عادت کړي دي وایي په یو مخیز نوټ کښې له دوه مخیز نوټ څخه لیدنه اسانه او روښانتیایې زیاته ده. د نوټ د مخونو په ارتباط دوی د مفاهیمو تصویر په عادي توګه ښه ذهن ته راولي.

۴. له نوټ اخیستلو څخه دوه یادرې ورځې وروسته هغه یو ځل بیا له نظره تېر کړئ که چېرې معلومه شوه چې نوټ مو واضح نه دی او یا مجمل اخیستل شوی دی او یا دا چې سم نه دی تنظیم شوی، هغه له سره نوی کړئ او بیا یې ولیکئ. دا

کار تاسې دې ته متوجه کوي چې کوم- کوم شيان مو لوستي دي. دا نوی ليکل شوی نوټ به د مخکښې په نسبت ښه د استفادې وړ او ګټور وي. د نوټ نوي کول هغه وخت ډېر ضروري برېښي چې کتاب په منظمه توګه نه وي ليکل شوی. که چېرې ستاسې د نوټ اوټ لين له نامنظم کتاب څخه تهيه شوی وي، اطمينان ولرئ چې اوټ لين به مو هم نا منظم وي. نو بهتره داده چې اوټ لين په ښه توګه منظم کړئ.

د ابتدايي اوټ لين په هکله بحث د مقدماتي سروې په فصل کښې راغلی دی. د مهمو او عمده لغاتو، علايمو او جملو بېرون نويس بايد مستقيماً په دې اوټ لين کښې داخل او شامل شي. وروسته له دې چې د مطالعې د لاربښوونې د دغې کتاب ځينې فصلونه ولولئ، امکان لري ستاسې نوټ ا خيستل به د لاندينې مثال په څېر وي:

## د تسلط موندنې تخنيکونه:

مقدماتي سروې:

۱. د مندرجاتو فهرست پيدا کړئ.
۲. د عنوانو ترتيب، تنظيم او د يو عنوان رابطه له بل سره معلومه کړئ.
۳. مقدماتي اوټ لين جوړ کړئ.
۴. د مفاهيمو کلي دې په هر يو عنوان کښې ريکارډ شي.
۵. هغه لغات چې د مفاهيمو د کلي حيثيت لري، بايد ريکارډ شي.
۶. لومړي او وروستي پاره ګرافونه دې ولوستل شي.
۷. د فصل مقدماتي پاره ګرافو ته وګورئ.
۸. د فصل وروستيو پاره ګرافو ته هم وګورئ.
۹. توضيحي وسايل: عکسونه، فهرستونه او ديګر امونه په ژوره توګه وګورئ. دې ته پام وکړئ چې د عمده مفاهيمو وسايل يې څه ډول توضيح کړي دي.
۱۰. محاسبه او فهرست.

هغه څه چې مو زده کړي دي، ياد ته يې راولئ.

د خپل نوټ اخيستلو مهارت د يو مقدماتي اوټ لين په شکل په يو درسي کتاب کښې چې تاسې يې په لاس کښې لرئ په عملي توګه او مخصوصاً عمده لغتونه وليکئ. د نوټ اخيستلو په هکله ستاسې خپل مثال:

د درسي کتاب نوم:........................................

د فصل عنوان: ......................................

ټاکل شوي مخونه: ......................................

## دویمه وظیفه:

د عمده لغتونو او مهمو جملو لاندې خطونه وکاږئ. ځنې ممتاز زده کوونکي داسې عادت لري چې د کتاب د لوستلو په وخت کښې د ځینو عمده جملو او نویو او نامانوسو کلمو لاندې خط وکاږي.

*(البته په هغه صورت کښې چې کتاب یې خپل وي)*

همدا رنګه له لوستلو څخه وروسته معمولاً د نوټ اخیستلو په وخت کښې باید د عمده کلمو او مهمو جملو لاندې خط کش شي.

البته د خط کاږلو یا کش کولو تخنیک داسې دی چې لومړي باید صفحه ولوستل شي او په دویمه مرحله کښې دې بیا فیصله وشي چې کوم مهم ټکي په خط کش کولو سره په نخښه شي چې د اړتیا په وخت کښې په یو ځل کتلو سره په ډېرې چټکۍ سره هماغه لوستل شوی مخ ولوستل شي، عمده او مهم مفاهیم یې په یاد راوستل شي.

د مثال په توګه په لاندنیو پاره ګرافونو کښې د عمده والی د نظریې له مخې د هغې لاندې خط وکاږئ: په ۱۹۳۹ع کال کښې نازي المان پولنډ ونیو. ثانوي ښوونځي او پوهنتونونه یې وتړل په پولنډ کښې د نازیانو واکمن چې هانس فرانك نومېده، اعلان وکړ چې: "پولینډیان ثانوي ښوونځیو او پوهنتون ته اړتیا نه لري" که څه هم د نازیانو د شپږ کلن اشغال په جریان کښې زیات شمېر ښوونکي او متخصصین رسماً په صنعتي او نظامي کارونو ګومارل شوي وو، خو بیا هم هغوی به د شپې له خوا په پټه خپلو درسي ټولګیو ته په زېرزمینیو، برنډو او دکر په کروندو کښې تدریس کاوه.

د ښوونکو د ښوونې او روزنې پټو او تر ځمکې لاندې کمیټو د دغه ډول تدریس تنظیمول، په غاړه درلودل او حتی د دغه پټ تعلیمي سیستم فارغانو ته به یې بري لیکونه هم ویشل. د (۶۰۰۰۰) په شاو خوا کښې ځوانانو ثانوي زده کړې، او (۶۰۰۰) ځوانانو پوهنتوني او مسلکي زده کړې په پټه توګه سرته ورسولې.

د درسي کتاب یو مخ انتخاب او د نوټ اخیستلو له پاره د مهمو او عمده کلمو لاندې خط وکاږئ. وروسته بیا لوستل شوې کلمې او هغه کلمې چې ترې لاندې خط کش شوې دي، وشمېرئ. په دې وخت کښې د خط کش شویو کلمو شمېر د ټولو لوستل شویو

کلمو په شمېر باندې تقسیم کړئ. حاصل یې په سلو کښې ضرب کړئ تر څو چې د په نخښنه شویو کلمو فیصدي در معلومه شي.

څو کلمې مولوستې دي ........................................

څو کلمې مو په نخښنه کړې دي ........................................

## درېمه وظیفه:

د مفاهیمو د توضیح لپاره ډایګرام جوړ کړئ.

ځنې وختونه ډایګرامونه د عمده مفاهیمو د تشخیص لپاره ګټور دي. د هغو په وسیله مفاهیم، مفکورې او علمي حقیقتونه په دماغ کښې ښه کښېني.

په دې فصل کښې ډایګرامونه راغلي دي چې په راتلونکي مخ کښې به هغه وګورئ، د نمونه یې مثالونو په توګه راوړل شوي دي.

البته دا لازمه نه ده چې د خپل نوټ په هره برخه کښې ډایګرام وکاږئ. مګر د ډایګرام طرح تاسې ته دا څرګندوي چې د یو ګروپ کلمې او شکلونه له یو بل سره څه ډول ارتباط لري. همدا رنګه ډایګرام له تاسې سره دا مرسته کوي چې حقایق د هغو له درستو اړیکو او روابطو سره وپېژنئ. دا دې مثالونه یې راوړو:

عمده او مهمې کلمې | عمده او مهم حقایق | هدفونه

د خپل د لوستنې وړ یو مضمون له عمده او مهمو ټکیو نه ډایګرام جوړ کړئ.

د کتاب نوم ........................................

د فصل عنوان ........................................

ټاکل شوي مخونه ........................................

## نوټ اخیستلو ته کتنه

۱. له حقایقو او مفاهیمو نه په ابتدایي شکل اوټ لین جوړ کړئ.

۲. په خپل کتاب کښې عمده کلمې په نخښنه کړئ.

۳. ډایګرامونه جوړ کړئ.

# د زده شویو موادو بیادول (حفظ کول)

هغه وظیفې چې تاسې په دریو تېرو شویو فصلونو کښې تمرین کړې ټولې یې د حفظ کولو په عملیه کښې مرسته کوونکې واقع کېږي. څرنګه چې په مطالعه کښې د حافظې ته سپارلو عملیه د زده کړې له مهمو عواملو څخه ده، له همدې امله به دا فصل په بشپړه توګه د حافظې ته د سپارلو عملیې د مهارتونو او تخنیکونو د انکشاف او پراختیا پورې ارتباط ولري. په دې فصل کښې د مخکښې یادو شویو پیشنهادونو تکرار او پیاوړتیا هم راځي او همدا رنګه پکښې د حافظې ته د سپارلو د موضوع په ارتباط یو شمېر اضافي مفاهیم راغلي دي. چې دلوستونکو له پاره به ډېر ګټور وي.

کله چې یو مهم حقیقت هېر کړئ. پرته له دې چې د معلوماتو یوه برخه مو له لاسه ورکوئ. بلکه د ارتباطي معلوماتو د توضیح او تنظیم قدرت مو هم سلب کېږي. له همدې امله د زده کړل شویو موادو هېرېدل د ضرورت پر وخت، په ځانګړې توګه په آزموینه کښې، د وارخطایی سبب ګرځي.

| مضمون | مهم حقایق | د هرې پوښتنې په ځواب کښې ضروري حقایق |
|---|---|---|
| بیالوژي | کروموزونه تل د جفت په شکل موجودوي. | جنیتیکس |

د دې لپاره چې د مهمو حقیقتونو د هېرولو مخه ونیول شي لازمه ده چې هغه حقیقتونه په بېلو بېلو وختونو کښې تکرارشي. او د بېرته تر لاسه کولو لپاره یې باید د لاندې ټاکل شویو وظیفو په اساس خپل کارته دوام ورکړئ.

هېرول یو عادي کار دی. هر څوک ځینې خپل زده کړي شیان هېروي. هغو متخصصینو چې د هېرتیا په هکله څېړنې کړې دي وایي چې زده کوونکي وروسته له هغې څخه چې د خپلې مطالعې کار پای ته رسوي، له ډېر کم وخت څخه وروسته هغه هېروي.

ولې؟ آیا دا ممکنه ده چې د هېرولو مخنیوی وکړو؟ یا هغه لږ کړو؟

مخکښې له دې نه چې د هېرولو مخنیوي د حل لاره ولټول شي ښه داده چې دې دوو واقعیتونو ته پاملرنه وکړو.

۱. لوستونکي چې له کوم شي سره علاقمندي لري یا هغه ورته په زړه پورې وي. په ذهن کښې یې ښه کښیني.
۲. تاسې کولی شئ حافظې ته سپارل پیاوړي کړئ. لکه د ټینس او یا ګلف د لوبې د زده کولو غوندې، خو په هغه صورت کښې چې په لاژمو تخنیکونو سره د هغې مشق او تمرین وکړئ، او زده یې کړئ. د دې حقیقتونو مفهوم څه دی؟ حافظې ته سپارل تر یوې اندازې پورې په ژورې پاملرنې او د زده کوونکي د مربوطه دلچسپی په تناسب او قسماً په استعداد پورې مربوط دي.

که چېرې غواړئ چې څه شی حافظې ته وسپارئ او حافظې ته د سپارلو مهارت زده کړئ. در معلومه به شي چې ستاسې د حافظې قوت په مراتبوله هغه نه ښه اولوړ دی چې تاسې یې تصور کاوه.

## لومړۍ وظیفه:

د هغه څه په ارتباط چې مطالعه کوئ یې، علاقمندي پیدا کړئ! فکر وکړئ چې څنګه مو د یو ګټور کتاب لوستلو، احساسات پاروونکی مسابقو او د خوښیو د وخت په زړه پورې تجربې په یاد پاتې دي. نو بیا تاسې پخپله پوهېږئ هر څومره چې ستاسې د یادولو موضوع تاسې ته په زړه پورې وي په هماغه اندازه تر ډېره او په ښه توګه ستاسې په یاد پاتې کېږي.

هر لوستونکی باید هغه د لوستلو وړ مضامین او مواد ولولي چې کله هم ورته په زړه پورې نه وو او غیر عملي احساسېږي.

هر کله چې چاپ شوي او لیکلي مواد لولئ چې هغومره په زړه پورې نه دی، کوښښ وکړئ چې له هغې سره یې علاقمند شئ چې کولای شي ستاسې پام ځانته راواړوي. ځکه چې هېڅ داسې کتاب او مضمون نشته چې په تمامه معنا پکښې په زړه پورې ټکي نه وي.

دا دی دغو پیشنهادونو ته پام وکړئ:

۱. کوښښ وکړئ چې له مطالعې وړ مضمون څخه د استفادې لپاره د خپلې پوهې او عمل دلیل پیدا کړئ.
۲. لږ تر لږه د موضوع یوه برخه د خپل ځان لپاره داسې په زړه پورې تصور کړئ چې د لوستلو په وخت کښې ستاسې په فکر کښې وي.
۳. د لوستلو د پام وړ موضوع ته له هغو نورو موضوعاتو سره چې مخکې تاسې ته په زړه پورې او د پام وړ وو. ارتباط ورکړئ.

دغه ډول هڅه او کوښښ به ستاسې د ښې زده کړې لپاره قوي تحریک کوونکې انګیزه را مینځته کړي.

د یو داسې مضمون نوم واخلئ چې د هغې د مطالعې پروخت تاسې د ستړیا او نه دلچسپۍ احساس کړی وي.

.....................................................................................

د دې مضمون څو تاکلي ټکي چې تر یوې اندازې پورې تاسې ته په زړه پورې او د پام وړ وو؟

.....................................................................................

د مضمون د ځینو هغو برخو په هکله چې تاسې ته هومره په زړه پورې نه وې، قانع کوونکی دلیل وړاندې کړئ؟

## دویمه وظیفه:

د اساسي مفاهیمو په هکله دې په څرګنده او واضح توګه معلومات تر لاسه شي. د مفاهیمو په هکله څرګند معلومات تر لاسه کول حافظې ته سپارلو لپاره ډېر مهم دي.

که چېرې تاسې د موضوع په اړه نا معلوم او نا بشپړ مفاهیم ولرئ، هغه به مو ډېر ژر هېر شي.

هر څومره چې پر موضوع باندې په ژوره او دقیقه توګه پوه شئ په هماغه اندازه به هغه په بشپړه توګه حافظې ته وسپارئ.

هر کله چې تاسې دا یا بل کتاب لولئ او مطالعه کوئ یې، که چېرې د هغې په یوه برخه پوه نه شئ او دهغې له پوهېدنې څخه ډاډمن شوي نه یاست، د کتاب بلې برخې ته رجوع مه کوئ. د مثال په ډول: که چېرې تاسې د دې رسالې د مقدماتي سروې په برخه پوه شوي نه یاست بلې برخې ته رجوع مه کوئ. ځکه دا څرګنده ده چې په دویمه برخه به یې هم پوه نه شئ.

نو معلومه شوه چې حافظې ته سپارلو د عملیې په روشونو باندې پوهېدنه، ډېره مهمه ده.

دوستانه برخوردونو، د خپلوانو، دوستانو خبرو ته د غوږ اېښودلو، د تلویزیوني فلمونو له کتنې، ورځپاڼو، ډله ییزو اطلاعاتو او نورو څخه د ژوندانه په بهیر کښې تر لاسه کېږي.
دغه ډول دوامداره زده کړه، د لوستو او نا لوستو وګړو په شمول، د شخص د زده کړې ستره برخه تشکیلوي.

## ۲. رسمي ښوونه او زده کړه (Formal Education):

دغه ډول ښوونه او روزنه چې هدف، پلان، پروګرام، د بېلا بېلو مسلکونو مشخصې او ځانګړې تحصیلي درجې لري، د رسمي ښوونې او روزنې په نوم یادېږي، لکه د وړکتون، ښوونځیو، پوهنتونونو او نورو د ښوونې او روزنې سیستم.

## ۳. خصوصي ښوونه او زده کړه (Non Formal):

د ښوونې او روزنې او یا د زده کړې د پروګرام هغه ډول دی چې د رسمي تعلیماتو د سیستم له چوکاټ نه بهر د یوې ټولنې د بېلا بېلو ډلو له خوا د ټاکلو هدفونو په غرض، لکه: د مذهبي اقلیتونو تعلیمات او د حرفه یی صنفونو تعلیمات چې د سواد زده کړه او اساسي تعلیمات ماشومانو او لویانو ته ور زده کوي، د خصوصي زده کړو په نوم یادېږي.
د رسمي، غیر رسمي او خصوصي تعلیماتو د زده کړې هدف دا دی چې زده کوونکي د طبیعت په رمزونو او ټولنیزو اړیکو پوه شي. ځو چې د پخپله زده کړې له لارې یې د مهارتونو او عادتونو د خپلولو او علمي طرزتفکر په اثر طبیعي پوهه په عملي پوهه بدله شي.
نننۍ نړۍ د تغییر او بدلون نړۍ ده، هره ورځ نوي معلومات او اطلاعات را مېنځ ته کېږي. نوې او تازه تجربې تېرې او پخوانۍ تجربې بشپړوي او یا بدلوي. دیوې ټولنې دودې او بشپړتیا په پړاو کښې باید د رسمي، غیر رسمي او خصوصي تعلیماتو وده د هغه ملت افراد داسې سمبال کړي چې خپلې او د ټولنې اړتیاوې پوره کړای شي او د ټولنیزې ډلې د یو توکی (جز) په توګه د ساینس او ټکنالوژۍ له پر مختګونو سره خپل اطلاعات، مهارتونه او د عمل طرزهمرنګ او هم اهنګ کړي.
د ښوونځیو نننی شعار دا دی چې : "زده کوونکو او محصلانو ته دا ورزده کوي چې څنګه یې پخپله زده کړي. Learning how to learn
دغه شعار ددې لپاره منل شوی چې رسمي او غیر رسمي زده کړې نشي کولای د نن ورځې د پرمختللو او پیچلو اطلاتو او زده کړې ته ځواب ووایي. مګر دا چې د ښوونځیو او

## دریمه وظیفه:

د موضوع د عمومي پس منظر په هکله دې معلومات تر لاسه شي. د زده کړې لومړنۍ مرحله داده چې زده کوونکي متوجه شي چې د زده کړې وړ مواد د کُل په حیث څه ډول تنظیم شوي دي.

لکه چې وايي: مخکښې له دې چې ونوته و ګورې ځنګلونو ته کتنه مه هېروه. د کتاب په لوستلو کښې هم باید همدغه اصل په پام کښې و نیول شي او دادې معلومه کړای شي چې مؤلف څه ډول هڅه کړې چې مهمو مسایلو او اساسي مفاهیمو ته یو له بله سره ارتباط ورکړي. څو چې د موضوع د یوې برخې د مطالعې له مخې لوستونکي وکړای شي هماغه عمده مفاهیم توضیح کړي.

اوس نو د هغه درسي کتاب چې لولئ يې. د يو فصل عنوانونو ته وګورئ او د موجودو عنوانونو له مخې يو مقدماتي اوټ لین جوړ کړئ. دغه اوټ لین به د هماغه فصل د محتویاتو ډېر ښه تصویر تاسې ته در څرګند کړي.

د درسي کتاب نوم: ..............................................

د فصل عنوان: ..............................................

ابتدایي اوټ لین: ..............................................

د هماغه فصل د یوې برخې له لوستنې څخه وروسته یوه داسې جمله یا کلمه مثال ورکړئ چې تاسې ته ډېره څرګنده او له مفهومه ډکه ښکاره شوې وي. خو په مقدماتي اوټ لین کښې ونشئ کړای چې دغه جزء د خپل عمومي اوټ لین په شکل کښې ځای کړئ.

..............................................

که چېرې غواړئ یوشی (نظم- نثر- یا یو فهرست) خپلې حافظې ته وسپارئ او هغه ډېر اوږدنه وي. ښه به داوي چې د حافظې ته سپارنې کُلي میتود څخه کار واخلئ. کُلي میتود، د کُل په حیثیت د یوې موضوع د ټولو اجزاوو له لوستلو څخه تشکیل شوی دی. یعنی یوه موضوع باید د یو کُل په حیث د ټولو اجزاوو په پام کښې نیولو سره مطالعه او زده شي. که چېرې حافظې ته د سپارلو موضوع ډېره اوږده وي. لازمه ده چې هغه پر څو برخو ووېشل شي اویوه په بلې پسې په مسلسله توګه زده شي او وروسته ټوله موضوع د کُل په حیث ولولئ او د حافظې په وسیله په زمزمه کولو سره یاده کړئ.

## خلورمه وظیفه:

د مشکلو شیانو او حقیقتونو په حفظ کولو کښې له ذهني وسایلو څخه استفاده وکړئ. د ذهني وسایلو د کارونې یو مثال په موزونه یا منظمه توګه د یو مفهوم جوړول یا په وزن اوقافیه کښې راوستل دي. لکه دېرش ورځې سپتمبر، اپرېل او جون او نومبر... چې د عیسوي میاشتو د ورځو د شمېر د حفظ او تکرار لپاره استعمالېږي. او یا په ذې لاندې دري بیتونو کښې مفاهیم داسې ځای پر ځای شوي دي:

هشت حرف است آنکه اندر فارسي ناید همی
تا نیاموزی نباشی اندرین معنی معاف

بشنو از من تا کدام است آن حروف و یا دگیر
"تا" و "حا" و "صاد" و "ضاد" و "طا" و "ظا" و "قاف"
چهار دیگر خاص باشد بر زبان فارسي
با تو یک یک باز گویم "پ" و "چ" و "ژ" و "گاف"

* * * * * * * *

در وضو آب یک من ونیم است
غسل را چهار من ز تعلیم است
ورتو خواجه برلبی جویی
نیست اسراف هر چه میشویی

* * * * * * * * *

حرف حلقی شش بوده ای نور عین
همزه "ها" و "حا" و "خا" و "عین" و "غین"

* * * * * * * * *

ددې لپاره چې د عصب کرانیل دولس نومونه زده کړئ دا په یادولرئ چې د دولس کرانیل اعصاب د هریو لومړی توری د هغه بل د لومړي په شان شروع کېږي.

له خپله ځانه جوړ کړي ذهني وسایل د هغو مهمو شیانو په زده کولو کښې چې مطالعه کوئ یې، استعمال کړئ.

## پنځمه وظیفه:

خپل ډېر وخت په حفظ کولو تېر کړئ. نه په بیا لوستلو. که چېرې محض په لوستلو سره لوستل شوي موضوعات حافظې ته سپارل کېدای شوای. کار به په سمه توګه سرته

رسېده، خو داسې نه ده، يوازې لوستل کافي نه دي، بلکه لازم دي چې لوستل شوي مواد زده او حافظې ته وسپارل شي.

که چېرې تاسې هغه څه چې لوستي مودي په زمزمه کولو سره د هغې مفاهيم په يو چوکاټ کښې طرح کړئ. په حقيقت کښې به مو په خپل ذهن او د ماغ کښې د هغې موضوع ډېر ښه انځور (تصوير) وښکلی وي.

دغه روش او طريقه له دې امله مطلوبه او ګټوره ده چې ستاسې ټول حواس، لکه: ليدل، اورېدل، ويل او ليکل د يادولو په کار کښې متمرکز کېږي.

فرضاً تاسې غواړئ چې حافظې ته د سپارلو اته طريقې په دې فصل کښې زده کړئ. تر څو چې ستاسې په حافظه کښې ښه والی راشي. پخپله په لوړ غږ هغه تکرار کړئ او يا بل چاته ووايئ چې هغه يې ولولي او تاسې غوږ ورته ونيسئ. مخکښې له ويده کېدو څخه هغه څه چې د حفظ کولو له پاره مو تکرار کړي دي، په يادراولئ. له ويښېدو څخه وروسته هغه يو ځل بيا راپه ياد کړئ، په ګرځېدو راګرځېدو او ښوونځي ته د تللو په لاره کښې هغه له خپل ځان سره تکرار او ازمايش کړئ، بياوګورئ چې تاسې ته څومره ګټوره تماميږي. حافظې ته د سپارلو لپاره د موضوع په لوړ غږ تکرارول، د مکرر لوستلو په نسبت له دې امله ګټور ثابتېږي چې تاسې کولی شئ موضوع له نقد او تفکر سره يو ځای په جدي توګه ذهن ته وسپارئ. نوټ اخيستل په واقعيت کښې په ليکلي توګه حافظې ته سپارل دي. کله چې تاسې له نوټ اخيستلو څخه وروسته هغه تکرار او بررسي کوئ ښه داده چې د بيا لوستلو پر ځای په ذهني، شفاهي او ليکلي توګه په حفظ کولو يې زيات وخت مصرف کړئ.

اوس نو خپل په لاس کښې موجود مواد، چې هغه مو له ټولګي څخه بهر وظيفې په توګه ټاکلي دي، د هغې د پيل کولو د وخت په ريکارډ کولو سره يې عملاً تر اجراء لاندې ونيسئ.

نوټ اخيستل پيل او اوټ لين په ورو- ورو ولولئ تر کومې اندازې چې کولی شئ شرح يې تکرار کړئ، تر څو چې په حافظه کښې مو کښېني. وروسته بيا خپله د نوټ پاڼه پر بل مخ واړوئ او کوښښ وکړئ چې په لږ وخت کښې يې په فکري تمرکز سره را لنډ کړئ. اوس نو ساعت ته وګورئ څو درمعلومه شي چې ستاسې دې کار څومره وخت نيولی دی؟ يا حافظې ته سپارلو عمليې څو دقيقې ونيولی؟

فلش کارتونه Flash Cards او عادي کارتونه هم د موضوعاتو او حقايقو، لکه تاريخي پېښې او وخت حافظې ته په سپارلو کښې ګټور او مطلوب وسايل ګڼل کېږي.



ACKU

امکان لري د خارجي ژبې په زده کړه کښې د فلش کارټ له شکل او مفهوم سره اشنايي ولرئ. په دې ترتيب چې په يو مخ کښې يې د يوې خارجي ژبې لغت او په بل مخ کښې يې په بله ژبه معادله کلمه تهيه شوې وي چې تقريباً په يو وخت کښې زده کوونکی د يو مفهوم دوه شکله تر لاسه کوي.

تاسې هم کولی شئ دا ډول کارتونه برابر کړئ. هغو ته پرله پسې نومرې ورکړئ او په بل مخ کښې يې په ترتيب سره مفاهيم درج کړئ. او يو په بل پسې د مسلسلو عددونو په استناد هغه مفاهيم هم زده کړئ. هر کله چې مو يو مفهوم په بشپړه توګه زده کړ، هغه کارټ يوې خوا ته کښېږدئ، بل کارټ راواخلئ او تمرين وکړئ. له دغو کارتونو څخه د تاريخي سنو، عمده اصطلاحاتو او پېښو کښې په مطلوبه توګه کار اخيستل کېږي.

يو شمېر سره مربوط کارتونه بايد د يو ربړي ګرد تار په وسيله سره يو ځای په جيب يا بکس کښې کښېږدئ او په مناسب وخت کښې پرې تمرين وکړئ. د پورته په شان د کارتونو پر مخ مفاهيم يو په بل پسې تکرار او ياد (حفظ) يې کړئ. زيات هغه کارتونه تکرار کړئ چې د هغو په زده کولو کښې د ستونزې او مشکل احساس کوئ. که چېرې دغه کارته دوام ورکړئ په لږ وخت کښې به زيات مفاهيم زده کړئ. د لاندې په شان کارتونه جوړ کړئ او هغه څه چې مطالعه کوئ د دغه نمونې په شان هغه د کارتونو پر مخ وليکئ:

د پنبې ماشين اختراع ۱۷۹۳

د متحدينو په واسطه دالمان ماتې ۱۹۴۵

له افغانستان څخه د روسي عسکرو وتل ۱۹۸۹.

د افغانستان د خپلواکۍ کال ۱۹۱۹- ۱۲۹۸ش

## شپږمه وظيفه:

مهم لغات او جملې بېرون نويس کړئ. عمده او مهم لغات او جملې بايد په درې بېلا بېلو حالتونو کښې بېرون نويس کړئ:

۱. کله چې مقدماتي اوټ لين جوړوئ.

۲. کله چې نوټ (يادداشت) اخلئ.

۳. کله چې په خپل شخصي کتاب کښې مهمې جملې او لغتونه په نخښه کوئ.

لاژمه ده چې نا مهمو کلمو او جملو ته لږ او مهمو عمدهٔ کلمو ته زيات غور او دقت وشي. ځکه چې د عمده کلمو او جملو حافظې ته سپارل له دې امله اسانه دي چې هغه پر لنډوالی برسېره د عمده او مهمو مفاهيمو څرګندوونکي هم دي.

## اوومه وظیفه:

د موضوعي تمرین په ارتباط خپلې د مطالعې ورځې په دفعو وویشئ. که د خپلې مطالعې ورځې حافظې ته د سپارلو په خاطر په ټاکلو دفعو او ساعتونو وویشئ، له مخکښې څخه به یې ښه زده کړئ.

د هر مضمون د مطالعې وختونه د هغه مضمون د حفظ او زده کولو په منظور په دوو یا درې متوسطو زماني مرحلو ویشئ. که چېرې امکان لري یوې اوږدې لویې او د زیاتو لوستنې موادو وظیفې ته باید تر ډېره وخته پورې دوام ورنه کړو. غوره لاره داده چې هغه په څو منځنیو دفعو باندې تقسیم کړئ. ځکه وروسته له دې زده کوونکی ستړی شي، د زده کړې حاصل بې ارزښته کېږي دا روا پوهانو په عقیده موضوعي زده کولو او حافظې ته سپارلو کښې یوه زماني موده پکار ده چې هغه مفاهیم په ذهن او حافظه کښې کښېني او ټینګښت ومومي. بنا پردې د مطالعې دو ختونو تر مینځ فاصله د مطالعې په کار کښې مفاهیمو ته موقع ورکوي چې په دماغ کښې کښېني. په دغه ډول عملیو کښې ښه حفظ شوي مفاهیم په ذهن کښې پاتې کېږي او لږ حفظ شوي مفاهیم ترې وځي.

تاسې برسېره پر هغو موضوعاتو چې د آزموینې لپاره یې حافظې ته سپارئ، نورشیان چې وخت یې محدود نه دی، هم غواړئ چې حافظې ته وسپارئ. نو بنا پردې د وخت وقفه یې تمرین ډېره بریالی طریقه ده.

لومړی تمرین په لږه زماني فاصله کښې. (هغه څه چې زده کوئ د حفظ کولو او یاد ته راوستلو په شکل) او وروسته نامحدود تمرینونه په اوږده فاصله کښې سرته ورسوئ. راشئ وګورو چې اوومه وظیفه تاسې ته ددې فصل په لوستنه کښې څه ډول اغېزمنه واقع کېږي. امکان لري تاسې څو اضافي ساعتونه د هغه په باره کښې فکر وکړئ. مګر له دې څخه به ښه نتیجه هغه وخت تر لاسه شي چې دغه کار په دوه یا درې زماني وقفو وویشو. ستاسې پلان باید په دې ډول وي چې د فصل لوستل نن او د حفظ او تکرارولو د ماهرانه تسلط مونډنې تخنیکونو کار یې په نورو ورځو کښې سرته ورسوئ.

## اتمه وظیفه:

د راتلونکی له پاره یې زده کړئ.

که چېرې تاسې ځینې مفاهیم او موضوعات محض د آزموینې لپاره حافظې ته وسپارئ، امکان لري د امتحان په تېرېدو سره مو هغه مضامین هېر شي. که چېرې دا

تشخیص شي چې ځنې حقیقتونه او مفکورې د همېش لپاره د زده کولو ارزښت لري، ښه به دا وي چې هغه حقیقتونه او مفکورې داسې تکرار کړای شي چې د اوږده وخت او یا د همېش لپاره په حافظه کښې پاتې شي.

د اروا پوهانو د کشف له مخې که چېرې وغوښتل شي چې موضوع د همېش لپاره حافظې ته وسپارل شي، ښه لاره داده چې په لومړي سر کښې بشپړ تسلط تر لاسه شي، څو په دوهم پړاو (مرحله) کښې هغه پیل کړو. یو ارواه پوه د دې موضوع د تجربې لپاره زده کوونکي ته د نومونولست ورکړ چې هغوی دا نومونه زده کړي. دا ته ویشتو ورځو په جریان کښې یې دغه په ذهن کښې د کښېناستنې اندازه و آزمویله. هغه شمېر زده کوونکو چې له بشپړ تسلط موندنې څخه وروسته یې د یوې برخې حافظې ته سپارلو کښې ډېر وخت تکرار کړي و، نسبت هغه چاته چې تسلط موندنې څخه وروسته یې اضافي تکرار نه وکړی، څلور برابره نومونه زده کړي وو.

نو لازمه ده چې له یادولو څخه وروسته ځان په همېش او دوامداره لوستنه عادت کړو، که چېرې غواړئ چې انګلیسي ژبه مطالعه کړئ، لازمه ده چې لومړی یوه وظیفه چې، د کلمو او قواعدو زده کړې له لست څخه تشکیل شوې ده، د هغې د یادولو لپاره ډېر وخت تېر کړئ. چې ښه او د تل لپاره مو په یاد کښې پاتې شي. او یوه د لوستلو وظیفه داسې انتخاب کړئ چې د مستقیم حفظ اړتیا ایجابوي. د خپلو انتخاب کړو موادو حافظې ته سپارلو د کار پیل او پای ریکارډ کړئ:

مضمون: ........................................

د حفظ وړ وظیفې ماهیت: ........................................

د هغه دوخت د اوږدوالی اړتیا: ........................................

اوس نو له څلورو برخو نه د هماغه وخت ترنیمایي پورې موده بیا هم د حفظ وړ موادو په زده کړه تېره کړئ. دا یو داسې څه دی چې په راتلونکې کښې دزده کړې سبب ګرځي. د مفهیمو، لکه لستونه، قوانین، فورمولونه او داسې نورو د یادولو لپاره لازمه ده چې له اندازې څخه زیاته ماهرانه تسلط موندنه د عملونو په واسطه، لکه ملګروته د هغو ویل او تشریح کول، او د دې لپاره چې په ذهن کښې ښه کښېني په خبرو او مکالمو کښې استعمالولو کښې دې زیاته هڅه وشي.

یو بل اصل چې د یوې موضوع د یادولو او تر ډېره وخته په حافظه کښې ساتلو لپاره ګټور او لازمي دی هغه دادی چې هغه څه چې دمخه (پرون، تېره میاشت او حتی تېر کال) مو زده کړي دي، له هغه څه سره چې اوس یې زده کوئ یو ځای او لنډیز کړئ.

د مثال په ډول فرض کړئ چې په بیالوژي کښې مود مخه د ژوند د چاپېریال د ښلا ښېلو موجوداتو تر مینځ د دوه اړخیزې ګټورې رابطې په هکله معلومات تر لاسه کړي دي.

د ونې (زان- چلر) او فنګسونو رابطه د موضوع په ارتباط توضیح شوې وه. اوس نو په بیالوژی کښې د فنجي Fangi په برخه کښې لولئ چې ځنې فنجیان په خاوره کښې په طفیلي (پره زیت- Parasite) توګه وي او د معدني موادو په اخیستلو کښې د نباتاتو ریښو ته د جذب لپاره لارې چارې برابروي.

بنا پردې کولای شئ د ژوند له چاپېریال سره د ښلا ښلو موجوداتو د دوه اړخیز ارتباط مسئله له اوسنیو معلوماتو سره چې د نباتاتو ریښو ته دکاني موادو د جذبولو لپاره د زمینې برابرولو او سره ګډ ژوند (Co- Esistince) په ارتباط دي، سره یو ځای او را لنډ کړئ.

زیاتره وختونه دغسې یو ځای کول او لنډول د نورو مضامینو تر منځ هم امکان لري.

د مثال په ډول: تاسې کولی شئ د ساري ناروغیو په هکله هغه معلومات چې د سائینس په برخه کښې مولوستي دي له هغو معلوماتو سره چې په تاریخ کښې د زېړې تبې Yellow Fever په مقابل کښې چې د پلیام ګورګس بریالی مبارزه تر سره کړه او بالاخره د پانامې د کانال د جوړولو له پاره یې لاره اواره کړه. سره یو ځای کړئ.

هر کله مو چې تېر شوي معلومات د نوې زده کړې په چوکاټ کښې د پورتنیو مثلونو په څېر ځای پر ځای کړل. هغه څه چې د مخه او اوس زده کوئ. په ډېره ښه توګه به یې په ذهن کښې کښېنوئ.

# حافظې ته د سپارلو روشونو ته لنډه کتنه

۱. د ذوق او علاقې موندنه.
۲. اساسي مفکورې تر لاسه کړئ.
۳. له موضوع څخه کلي تصویر واخلئ.
۴. له ذهني وسایلو لکه وزن او قافیې څخه استفاده وکړئ.
۵. حافظې ته یې وسپارئ.
۶. مهم او عمده لغتونه او کلمې بېرون نویس کړئ.
۷. خپل د مطالعې وخت په وقفو وویشئ.
۸. د اوږده وخت لپاره د یادولو له مهارتونو څخه استفاده وکړئ.

## د مطالعې د ماهرانه تسلط موندنې د تخنیکونو لنډیز

د دې مجموعې څلور واړه فصلونه ستاسې د مطالعې په اړه مهمه برخه تشکیلوي، دا چې تاسې هغه لوستي دي، فکر کېږي هغه رمزونه به درته معلوم شوي وي چې څنګه یې مطالعه او زده کړئ.

که چېرې تاسې وکړای شئ د مقدماتي سروې، لوستلو، نوټ اخیستلو او حافظې ته سپارلو کښې د ماهرانه تسلط موندنې تخنیکونه د مطالعې له طریقې سره ملګري اویو ځای کړئ، هغه وخت بیا دا ډاډ تر لاسه کېږي چې تاسې د مطالعې او زده کړې په کارونو د تسلط موندنې په لور هدفمند ګامونه اوچت کړي دي. په مطالعه او لوستلو کښې هدفمندي د دې سبب ګرځي چې تاسې د زده کړې او تحصیل په اغېزمنو وظیفو کښې له مخکښې نه زیات علاقمند شئ، چې دا پخپله تاسې ته په لوستلو او یادولو کښې چټکتیا، د خوند او لذت احساس او د بریالی تجربې لارې چارې برابروي.

په دغه صورت کښې به تاسې د لامبو وهلو سیستماتیکه عملیه پخپله په عملی توګه په ډنډ کښې زده کړې وي نه دا چې د هغې په باره کښې مو په نظري توګه څه لوستي وي.

په زده کړې کښې دا چې څنګه یې باید زده کړئ لازمه ده چې په کتاب کښې پیشنهاد شوي تخنیکونه پرله په پرله په عملي توګه تطبیق، خپل تسلط او مهارت ته پرمختیا ورکړئ.

یوه مقوله ده چې وایي: "وخت له سرو زرو څخه هم ارزښتناك دی" که چېرې تاسې د مطالعې ماهرانه تسلط موندنې تخنیکونو ته پخپل ځان کښې انکشاف او پیاوړ تیاور کړئ یو ډېر ارزښتناك شی، چې هغه وخت دی، به مو سپمولی وي. په لږ وخت کښې به ډېر معلومات تر لاسه کړئ.

که چېرې په دې مطمئن شوي یاست، هغه څه چې دلته په لنډه توګه وویل شول، له هغو څخه مو ګټه اخیستی ده، په دغه وخت کښې نو بیا تاسې ته یادونه کېږي، چې اوس نو تاسې یو بل څوك یاست، نه هماغه لومړنی شخص چې په لوستلو مو پیل کړی و. اوس په تاسې کښې هدفمند بدلون راغلی دی چې د پوهنې په اصطلاح هغې ته انکشاف یا پرمختیا وایی.

# د مطالعې د مهارت پرمختګ او پراختیا

## آیا تاسې یوازې د درسي کتاب لوستونکي یاست؟

د درسي کتاب په هکله د څلورو فصلونو تر لوستلو وروسته، ښايي اوس په داسې موقعیت کښې اوسئ چې د هغو په هکله مو تاکلي ستراتیژي تر لاسه کړې وي.

آیا په دې عقیده لرئ چې د موضوع او یا مضمون په ارتباط د معلوماتو د زیاتوالی له پاره یوازې درسي کتاب کفایت کوي؟

البته تاسې به هم له ماسره په دې هم نظري او هم غږي یاست چې ووایو نه خیر! له دې امله چې مؤلف په درسي کتاب کښې هڅه کوي چې د درسي کتاب په بېلا بېلو فصلونو کښې د حقایقو او مفکورو یوه برخه ځای کړي، چې د هغه د نظر وړ اوله ذوق او سلیقې سره یې برابروي. لوستونکي باید هغه، لکه څنګه چې ترکیب شوي دي. ولولي او پرې پوه شي. که چېرې غواړئ چې ستاسې په معلوماتو کښې تنوع رامنځته او له بېلا بېلو اړخونو څخه موضوعات زده کړئ، ښه لازه یې داده چې ځان د درسي کتاب له حدودو څخه را بهر کړئ، کتابخانو ته ورشئ او د درسي کتاب موضوعاتو پورې مربوطو کتابونو په لوستلو سره خپله علمي پانګه پیاوړې او پراخه کړئ او له حقیقتونو او مفکورو څخه په انتقادي توګه ځان خبر کړئ.

### لومړۍ وظیفه:

په پراخه او ژوره پیمانه مطالعه وکړئ. دلته د یو شمېر هغو شاګردانو نظریات چې د تاریخ د مضمون په اړه یې له درسي کتاب څخه پرته د ژورې او پراخې مطالعې د اهمیت له مخې څرګند کړي دي. بررسي کوو: "په وروستي تحلیل کښې باید ووایو چې که چېرې په تاریخي موضوعاتو کښې یوازې په درسي کتاب اکتفا وشي په تعلیمي نصاب کښې به د تاریخ درس هېڅ خوند او خوږوالی ونه لري، نو له همدې امله لازمه ده چې د تاریخي ناولونو لوستلو ته چې په هغو کښې د تاریخ روح منعکس کېږي او تاریخي پېښنو ته ځلا او ښکلا بخښي، مخه کړو او ځان د درسي کتاب له حدودو څخه بېرون کړو. زیاتره وختونه د تاریخي ناولونو په لوستلو سره په موږ کښې د کنجکاوۍ حس را پیدا کېږي چې په دې ترتیب د ډېرو هغو پوښتنو ځوابونه چې له درسي کتابونو څخه پرته په نورو کتابونو کښې دي، د هغو په لوستلو سره پیدا کوو.

---

د درسي کتاب د موضوع په ارتباط د غیر درسي کتابونو لوستل په زړه پورې او زمونږ د پوهې د زیاتوالي سبب ګرځي."

د مثال په ډول د فردوسي شاهنامه چې زمونږ د هیواد د تاریخي کیسو له جملې څخه ده، تر کومه حده د هغې په لوستنې زمونږ د تاریخ درس په زړه پورې او بډای کیږي.

فکر وکړئ چې تاسې د بیولوژي په مضمون کښې د ناروغیو په مقابل کښې د معافیت په هکله یو لړ لکچرونه تعقیبوئ او غواړئ چې د لومړنیو پوهانو، لکه پاستور او لیونهوك په ارتباط په مفصله توګه معلومات تر لاسه کړئ، چې په کتاب کښې دا موضوع په ډېره لنډه توګه راغلې ده او د دغسې پیښې کشف یې د ساینس په تاریخ کښې یوه ډېره مهمه او په زړه پورې پېښه ګڼلې ده. اوس نو تاسې غواړئ چې د هغې په باره کښې مفصل نوټ، لکه د دریم فصل له کتابونو او کتابخانې څخه تر لاسه کړئ. تر څو په دې باره کښې ستاسې د کنجاوۍ حس قانع کړای شي. نو تاسې کتابخانې ته ورځئ او غواړئ چې د کتابخانې د کتابونو د کتلاك د کارتونو په وسیله په ناروغیو کښې د معافیت موضوع پیدا کړئ.

کارتونه د الفبا په ترتیب تنظیم شوي تاسې کولی شئ تر درې ډولو عنوانو لاندې خپله موضوع پیدا کړئ:

- د هغه مولف نوم چې په نارغیو کښې دمعافیت په هکله یې لیکنې کړې وپېژنئ. په دې صورت کښې د الفبا په ترتیب د هماغه نوم د پیدا کولو په لټه کښې شئ.
- که چېرې د هغه کتاب عنوان چې په دې باره کښې پکښې څه لیکل شوي وي، درته معلوم وي، په دې وخت کښې نو بیا د الفبا په ترتیب د عنوان د نوم په لټه کښې شئ.
- که چېرې د ناروغیو د معافیت د موضوع په ارتباط معلومات لرئ، نو بیا د الفبا په ترتیب د موضوع نوم ولټوئ.

کېدای شي تاسې د کتلاك په کارتونو کښې د معافیت تر عنوانو لاندې له لسو عنوانونو سره مخامخ شئ چې د هغو له جملې دوه عنوانونه تاسې ته په ناروغیو کښې د معافیت د موضوع په هکله معلومات درکړي.

د کتلاك کارتونو (Card Catoloque) نه په استفاده کوم ضروري معلومات چې په دغو دوو کتابونو کښې موجود دي. دغسې په لاس راتلای شي: چې یو به یې امکان لري داسې وي چې سمدستي د کتاب کال نمبر Call Number چې د کتلاك د کارت کیڼ اړخ ته وي. یادداشت کړئ. همدارنګه د مولف نوم او د کتاب عنوان ولیکئ. که چېرې غواړئ

پوهنتونونو فارغان د پخپلې زده کړې مهارتونه تر لاسه کړي. دا چې تحصیل او زده کړه د ژوند په مفهوم دی، انسان چې تر څو ژوندی وي زده کوي یې او باید زده یې کړي. (¹)

په داسې حال کښې چې رسمي او غیر رسمي زده کړې په یوه ټاکلي زماني مقطع کښې زده کوونکي ته یو لړ هدفمند او پلان شوي اطلاعات وړاندې کوي، مګر په نړۍ (طبیعي او ټولنیز چاپېریال) کښې روان بدلونونه، چې ورځ په ورځ پېښېږي کله د مدنیت کاروان له ډېرو بشري ټولنو څخه مخ په وړاندې درومي او د حافظ دا شعر په یاد راولي چې:

کاروان رفت و تو در خواب بیابان درپیش وه که بس بی خبر از غلغلی بانګ جرسی باید هیر نه کړو، هغه څه چې انسان په طبعیت کښې کشف کړي، یا یې هغو ته بدلون ورکړی او یا یې تحول را منځ ته کړی دی، هغه یې ثبت کړي او ثبتوی یې، لکه څنګه چې له لومړیو ډبرلیکونو څخه نیولې، تر وروستیو تجربو او پیچلو کمپیو ټري وسایلو پورې چې د انسان په لاس جوړ شوي، د انسان په واك او او اختیار کښې دي.

د یوې پر مختللې ټولنې یوه ځانګړنه دا ده چې د هغې وګړي په زیاته پیمانه پخپله زده کوونکي او د کتابونو، مجلو، ورځپاڼو او علمي او ټولنیزو ژورنالونو لوستونکي دي. په دغسې ټولنو کښې د کتابونو لوستل او له علمي منابعو نه د اطلاعاتو او معلوماتو تر لاسه کول د دې لپاره دي چې څه ډول د تیرو خلکو له تجربو، د طبیعي او انساني چاپېریال په ارتباط د نظر د خاوندانو، متخصصینو له علمي او ټکنالوژیکي څېړنو څخه پوهه او معلومات تر لاسه کړي. د دغسې ټولنو زیات شمېر وګړي په دې پوهېږي چې انساني تجربې تدریجي اغېزې لري. یعنې هره تجربه چې نوې تر لاسه کېږي، په مشابه موقعیت کښې وروسته اغیزه کوي او نوي بریالیتوبونه د راوروسته بریالیتوبونو احتمال زیاتوي.

د ښوونکیو دروزنې په عالي موسسو او پوهنتون کښې د څو کلونو د تدریس په جریان کښې د دې رسالې له مولف سره دا فکر پیدا شوی چې زموږ محصلین د ښوونې او زده کړې په عملیو کښې داستاد پر تدریس ډېره او د پخپله زده کړې په طریقه باندې ډېره کمه تکیه کوي.

تر هغه ځایه چې ماته معلومه ده، تر اوسه پورې داسې رساله چې له زده کوونکو سره د پخپله زده کړې په لارو چارو کښې مرسته او لارښوونه وکړي نه ده لیکل شوې. نو په همدې اساس مې لازمه وګڼله چې "د ښوونې او روزنې په عملیو کښې د زده کوونکو پخپله زده کړه" تر عنوان لاندې، زده کوونکو ته د اړتیاوړ مطالبو په پام کښې نیولو سره یوه

---

(¹) چه خوش گفت پیغمبر راست گوی ز ه گهوار ه تا گور دانش بجوی

چې له دغه کتاب څخه د يو راپور يا تحقيقي رسالې په ليکلو کښې د ماخذ په توګه استفاده وکړئ، د چاپ ځای، خپروونکی او د خپرېدو نيټه يې هم وليکئ. د کتاب د کارت څخه د معلوماتو تر يادداشت وروسته د کتابونو شلفونو ته راځئ. که چېرې کتابخانه په پرانيستې شکل وي، هغه پخپله پيدا کوئ او که نه وي نو هماغه يادداشت مو د کتابخانې موظف شخص ته ورکړئ، چې هغه ستاسې د ضرورت وړ کتاب تاسې ته پيدا کړي.

که چېرې کتابخانه په پرانيستی شکل وي ځو پوړيزو شلفونو ته نږدې ودرېږئ او خپل کتاب ولټوئ، ځکه چې کتابونه د کال نمبر له مخې ترتيب شوي دی. که تاسې پخپله په يوازې توګه او که د کتابدار په مرسته مو هماغه داړتيا وړ کتاب چې د ناروغيو په مقابل کښې معافيت دی، پيدا شو. نا ځاپه به ستاسې سترګې په يو شمېر نورو کتابونو هم ولګېږي چې ستاسې د مورد نظر موضوع په اړه په ضمني توګه ليکل شوي دي.

له هغوسره اشنايي او ياد هغو هر يو لوستنه به تاسې ته له په زړه پورې والی خالی نه وي.

دناروغيو په مقابل کښې د معافيت په باره کښې يو ډېر پخوانی مصور کتاب د پاستور لابراتواری تجربې دی.

يوه بله مرحله چې د ناروغيو په مقابل کښې دمعافيت په هکله بايد د زياتو معلوماتو تر لاسه کولو لپاره په پام کښې ونيول شي له علمی خپرونو. لکه: مجلو، لنډيزونو او علمي مقالو سره اشنايي ده چې د (لوستونکو لارښود) او يا د کتاب دار په مرسته د ناروغيو په مقابل د معافيت په ارتباط Immunization په باره کښې علمي مقالې پيدا کړئ. که چېرې نوې مقالې غواړئ د لوستونکو د لارښود وروستی خپرونه وګورئ يا کتابدارته د هغې يادونه وکړئ، کله چې مو هغه خپرونه پيدا کړه، هر څه چې د دغو دوو تنو پاستور او ليونهوك په هکله ليکل شوي وي لست کړئ.

لاندينی مثال دا ځرګندوي چې معلومات به په څه ډول تر لاسه کړئ. کتابدار هم کولی شي چې د لوستونکو له لارښود څخه هم تاسې ته د ښو او غوره علمي مقالو په هکله لارښوونه وکړي. همدارنګه د معافيت په هکله علمي مقالې د بيالوژی په لنډيز کښې هم پيدا کولی شئ.

- يوه بله طريقه چې د هغې په وسيله کولی شئ د "معافيت" په باره کښې معلومات تر لاسه کړئ دايره المعارف يا Encyclopedia ده چې د هغې په تر لاسه کولو

تاسې کولی شئ چې پکښې د معافیت د موضوع په اړوند نسبتاً بشپړ او په زړه پورې معلومات پیدا کړئ.

یوه داسې موضوع چې ستاسې د زده کړې او تحصیل د پروګرام په یوه برخه کښې یې لوستنه ضروري وي. و ټاکئ. کتابخانې ته لاړ شئ. کتابونه او علمي مقالې د پورته په شان پیدا کړئ او لاندنیو پوښتنو ته ځوابونه ووائې:

څه موضوع مو ټاکلې ده؟.............................................

د کتلاك په کارتونوکې مو د دې موضوع په ارتباط څو ماخذونه پیدا کړي دي؟...............................................................

د هغو د عنوانونو او نیټې د ارزیابۍ په اثربه د هغه څو دانې له تاسې سره مرسته وکړي؟ ...................................................................

لاندیني معلومات دګټور ماخذ په هکله داسې ولیکئ:

د کتاب نمبر Call number :............................................

د خپرېدنې یاخپرورنکې نیټه:.............................................

د مؤلف نوم: ..............................................................

عنوان: ......................................................................

تر کومې اندازې په کتابخانه کښې دغسې ګټورو کتابونو ته رسیده ګی کولی شئ؟

دا کار په مهارت پورې اړه لري چې تاسې له کتابونو څخه په استفادې کښې ترلاسه کړی دی. کله چې سټاکونو (Stock) ته ورننېږدې شوئ، او هغه مو ولټول، څو دانې موتر لاسه کړل؟...........................................................

له هغو ماخذونو څخه دیوه په باره کښې معلومات ورکړئ:

د کتاب کال نمبر: ..................................................

د کتاب مؤلف: ..............................................................

د کتاب عنوان: ..............................................................

له کوم ډول د ایره المعارف څخه مو استفاده کړې ده؟..........................

ستاسې د لوستلو وړ موضوع کومې مرحلې په نورو کتابونو کښې نه وې، اما تاسې هغه په دایره المعارف (Encyclopedia) کښې پیدا کړې؟

## دویمه وظیفه:

په انتقادي نظر یې ولولئ:

کله چې یې په انتقادي توګه لولئ د مؤلف د نظر څرګندونې په هکله بې طرفانه قضاوت وکړئ او د هغه هدف چې څه غواړي. ووائي. ځانته څرګند کړئ او کوښښ وکړئ چې د هغه د نتیجو او حقیقتونو تر مینځ اړیکې پیدا کړئ. په ځان کښې دا ځواك او قوت پیدا کړئ چې وکړای شئ ښه پوه شئ او سمه ارزیابي وکړئ.

مهرباني وکړئ په انتقادي توګه لوستنه کښې لاندنیو پیشنهادونو ته پام وکړئ:

١. کوښښ وکړئ چې د مؤلف پر هدف پوه شئ. آیا هغه غواړي چې یو ساده شی توضیح کړي؟ او یا یې یو راپور په علمي او افاقي شکل... یا له خپلو آزادو تخیلاتو څخه خبرې کوي او یا هغه غواړي څه شی توضیح کړي. آیا هغه لوستونکي ته د ځینو ارزښتونو په لوري لارښوونه کوي؟ البته کله کله یو مؤلف غواړي چې نوموړي ټول شیان یو په بل پسې د کتاب په بېلا بېلو برخو کښې توضیح کړي.

٢. د مشکلو درسی کتابونو او ماخذي کتابونو هر یو پراګراف د هغو د هدفونو او مفاهیمو د پیدا کولو له پاره تحلیل او تجزیه کړئ.

امکان لري په پراګرافونو کښې ځنې شیان لکه د دې شمارې په ډول ذکر شي:

الف: هغه پاره ګراف چې د علت او اثبات په رابطه (لکه د ښار په پراخوالی کښې کومك کوونکي عوامل) لیکل شوی وي.

ب: پاره ګراف په یوه مرحله کښې یوه علمي او دقیقه محاسبه (لکه په لابراتوار کښې د اکسیجن استحصال) څرګنده کړي.

ج: پاره ګراف کښې د یو څه په مقایسه او توپیر، لکه (د اسیکمویانو یا سورپوستو د کلتور توضیح) لیکل شوې وي.

د: پاره ګرافونه ځنې شیان لست کوی (لکه په یوه کلیواله ټولنه کښې د قحطۍ اغېزې).

هـ: پاره ګرافونه په زماني تدریج سره ځنې شیان وایي (لکه د کاغذ جوړولو په کار خانه کښې بېلا بېلې مرحلې)

٣. د علمي حقیقت بیان او توضیح باید د عقایدو او نظریاتو له توضیح او بیان څخه جلاشي. کله کله مولفان په مستقیمه توګه حتی په هغو علمي حقیقتونو کښې چې په کتابونو کښې لیکل کېږي د خپلو عقایدو او نظریاتو په هکله ټینګار او تایید کوي. باید دغه نظریات له علمي حقایقو څخه بېل کړای شي... صلاحیت لرونکي اقتصاد پوهان هم د انفلاسیون (د جنس په مقابل کښې د پیسو رالویدل) د نخښو په

هکله د غیر اټکل شویو خنډونو او پېښو د توضیح په وخت کښې خپل نظریات او عقاید وړاندې کوي. له همدې امله یو منتقد لوستونکي باید د مؤلفانو له دغسې روش څخه خبروي.

۴. که چېرې لیکنه نامانوسې جملې او کلمې ولري، د کتاب د مؤلف د څرنګوالي په هکله اضافي معلومات تر لاسه کړئ.

۵. که چېرې په دې شکمن شوئ چې مؤلف غواړي په ډېرې ځېرکی سره تاسې د یوې خاصې مفکورې خواته وګرځوي، په دغسې وخت کښې خپل ځان وژغورئ او د هغه قضاوت په ډېر احتیاط سره سنجش کړئ.

۶. هغه کلمې، فقرې او جملې چې مؤلف په قصدي توګه ستاسې د هیجاناتو او انګېزو د تحریك لکه قهر، ویره او نورو تهدیدونو له پاره لیکلي وي، چې هغه له سلیم قضاوت سره توپیرلري، بېرون نویس یې کړئ. تاسې دغسې کشفیاتو او موندنو ته، لکه د خپلو معلوماتو د زیاتوالی په ارتباط پوښتنو ته اړتیا لرئ، څو وکړای شئ په ځان کښې د هوښیارانه قضاوت توان او قوت پیداکړئ. اوس نو ځینې جاري پېښې د ځان له پاره وټاکئ او له څو منابعو څخه د هغو په هکله معلومات تر لاسه کړئ، تر څو هغه د پورتنیو شپږ پېشنهادونو په اساس ارزیابي کړای شئ. په پای کښې د هغو پرابلمونو او پېښو نوم واخلئ چې تاسې غواړئ هغه ځانته کشف او معلومې کړئ.

پرابلم یا پېښه: ...................................................

لومړنی ماخذ: ...................................................

دویم ماخذ: ...................................................

درېم ماخذ: ...................................................

څلورم ماخذ: ...................................................

د څلورو ماخذونو له لوستلو او د معلوماتو له منبع نه مو څه نتیجه تر لاسه کړه؟

## درېمه وظیفه:

دامکان تر اندازې یې په چټکی سره ولولئ. په لوستلو کښې چټکوالی ځانګړی معیار نه لري. ځنې کسان یې له ځینې نورو څخه چټك لولي. لکه څنګه چې افراد په کالیو اغوستلو، منډو اونورو کارونو په چټکتیا کښې توپیره سره لري، په لوستلو کښې انعطاف منونکي دي. هغوی هغه څه چې په ضرورت اوهدف پورې مربوط دي په چټکی او هغه څه

چې غواړي پرې پوه شي او له هغې نه خوند واخلي او يا د هغه متن په هکله نقد وليکي. په قرار لولي.

يو ليکوال په لوستنه کښې د بدلون راوستنې داهميت په هکله خپل نظر داسې څرګندوي: "په يادولرئ چې مهم او با ارزښته شيان بايد د کاسه ګرب (سنګ پشت) د حرکت په چټکتيا او بې ارزښته مواد د نور په چټکتيا ولولئ"

تاسې د درسي کتاب په مطالعه کښې د ماهرانه تسلط موندنې د تخنيکونو په استعمالولو کښې ضروري شيان زده کړي دي او ومولیدل چې د لوستلو د چټکتيا په هکله پکښې څه يادونه نه وه شوې په مطالعه کښې د ماهرانه تسلط موندنې د تخنيکونود کارولو په رعايت کولو سره به تاسې په لږ وخت کښې ډېر شيان ولولئ او د هغو د مرحلو اوکړنلارو څخه به د خپل کا ر کيفيت ښه او زيات کړئ.

مشکل او سخت مواد، لکه: نوي اصطلاحات، عمده تخنيکي معلومات او مفاهيم د کيسو او رواياتو په نسبت په ورولوستل کېږي. تاسې د لوستونکې په توګه د لوستلو په جريان کښې د کلمو مفاهيم پيدا او ذهني تصويرونه يې ذهن ته وسپارئ او له هغو نه نوی مفهوم واخلئ.

کوښښ وکړئ چې لاندينۍ جملې په ممکنې چټکتيا سره ولولئ:

کله چې نباتات پېژندونکي د لوړې تنې لرونکی نخود ترويج کوي، په دوهم نسل نخودو کښې هم هماغه شان لوړه تنه ليدل کېږي. کله چې دويم نسل نخود ترويج کوي په درېم نسل کښې ۷۵ فيصده د لوړې تنې او ۲۵ فيصده يې د ټيټ قدليدل کېږي. په دغسې شرايطو کښې د تنې لوړوالی څرګنده نخښه او لنډه تنه پټه نخښه نوموي.

په دې صورت کښې بايد تاسې په ورو ولولئ او ان تر دې چې په مکرره توګه يې ولولئ، په ځانګړې توګه که چېرې تاسې د جنيتيك د قوانينو په هکله معلومات ونه لرئ.

ستاسې دورو لوستنې د ليلونه روښانه دي:

(۱) جنيتيکي پيچلي قوانين (وراثت) په څو جملو کښې ځای شوي دي. (۲) دوه علمي اصطلاحګانې د "څرګند" او "پټ" په نوم په دې ځای کښې يادې شوې دي (۳) د کلماتو مفهوم درياضي په اصطلاحاتو کښې توضيح شوی دی. (۴) پېشنهاد شوی کړکېچن (بغرنج) روابط د لوړې تنې او ټيټې تنې ټولو نخودو تر مېنځ تناسب نسلي عامل دی.

کله چې قصه او په زړه پورې شعرونه لولئ ستاسې د لوستلو چټکتيا بيا بل ډول ده ځکه چې د ناول او شعر په ژبه کښې پېښې او پديدې په ځانګړې سبك او ښکلا په مبالغه

آمېزه توګه تمثيل کېږي. له همدې امله يې تاسې په ورو لولئ يا يې په تکراري ډول لولئ. تر څو چې هغه تحليل او تجزيه کړئ، پرې پوه شئ، خوند ترې واخلئ او د ليکوال يا شاعر د سبك په هکله فکروکړئ. دې لاندې شعرونو ته پاملرنه وکړئ:

ښه سړی د چا په بدو نظرنه کا
که څوك بد ورسه کاندې دی به ښه کا
په بار داره ونه تل کاڼي ورېږي
ورته ګوره چې بارداره ونه څه کا؟
د جهان کينې غوسې واړه تر شا کا
که سړی په وخت د قهر مرګ تر زړه کا
دا په دا چې خو د بينې ورځخه نشته
د جهان ننداري څکه دوه ليمه کا
په کينه په حسد هېڅ د چا ونه شي
هر سړی چې حسد کاندې ځان اوبه کا
نصيحت د نيکو ښه دی، نه د بدو
کم بختان به بدفعلی د چا په خوله کا
ورځ او شپه په لار روانې قافلې دي
نيك و بد د قافلې په لارې تله کا
يکتنها په لارې تلنه ده خوشحاله!
په داهسې لار څوك څه د لارې مله کا
(خوشحال ختك)

کره ګلو کره چې سيمه دې ګرزار شي
اغزي مه کره په پښو کښې به دې خار شي
ته چې بل په غشو ولې هسې پوه شه
چې همدا غشي به ستا په لور ګوزار شي
کوهی مه کنه د بل سړي په لار کښې
چېرې ستا به د کوهې په غاړه لارشي

تـه چـې هـر چـا تـه پـه خـوارو سـترګو ګورې
لاړومبې بـه سـتا صـورت تـر خـاور خوارشـي
آدمــزاد پــه معنــا واړه یــو صــورت دی
هــر چــې بــل ازاروي هغــه آزار شــي
هغــه زړه بــه لــه طوفانــه پــه امــان وي
چې کښتـی غونـدې د خلکـو بـار بـردار شي
خـدای دې بـد د لاسـه مـه کـړه او کـه وي هـم
د "رحمـان" دې لـه کـل بـدو اسـتغفار شـي

********

چـې دې نـه کـړ پـه نیکـی پـه ننـګ ونـام لـوړ
پـه دوه چمـه دې د خـتـو مـه شـه بـام لـوړ
کامیــابي پــه ســرکوزې ســره مونــده شــي
د ښیـښې د پاسـه نـه شـي نیـوه جـا م لـوړ
زیـات و کـم تـر خپلـه قـدره قـدم مـه ږده
د مرغــه پــه انــدازه غــوړوه دام لــوړ
کــم قوتــه خــر ورې د اوښ وړی نــه شــي
زیـات تـر خپلـه قـدره نـه ښایـی کـلام لـوړ
چـې پـه پـوزه یـې پـېـزوان نـه وي د طمعـې
د هغــو خلکــو ګردن بــه وي مــدام لــوړ
ســرکښان بــه پــه قیــامت پــاخي ســرکوزي
د څنــګل پــه مـزل تیـټ څي لـه ناکـام لـوړ
دلتـه څان لـه هـر چـا کـوز ګڼه "حمیـده"!
کـه هـوري تـر پرښتـو غـواړې مقـام لـوړ

"یوه د روښ لره ضرور پیښ شه- څه څیز یې د یار له کوره پټ کړه. حاکم حکم وکړ چې لاس یې پرې کاندئ. صاحب د هغه مال شفاعت وکړ چې ما بخښلی دی، لاس یې مه پرېکوئ. حاکم ووې- دا سیاست شرعی ماته نه رسي- چې عفو یې کړم. وی یې رښتیا وایې حکم هسې دی اماد وقف مال که هر څوك په غلا یوسي قطع یې لازم نه ده. اَلوَقفُ لَایُملَكُ

هر چې ملك د درويشانو دی وقف په محتاجانو دی- حاکم لاس ورځنې وکښل ورته يې ارزولی نصيحت و وې چې جهان درباندې تنګ و چې د هسې يار له کوره دې غلا کوله؟ ای بادشاه! اوربدلي دې نه دي چې هوښيارانو ويلي دي: د دوستانو کور جارو کړه، د دښمنانو په ور مه ودره.

قطعه

که سختي درباندې درشي چرې نه پکښې عاجز شې
پوستين اخله د دوستانو پوست وکاږه د غليم
دا فتوای د شريعت ده اهل حق به پرې پوهېږي
کاني خوره غاښونه مات کړه روتۍ مه خوره د لييم"
(د عبدالقادر خان ختك له ګلدستې څخه)

"ګېدړه يې وليدله چې تښتېدله، په منډو وه او ټوپونه يې وهل. چا ورته وويل: څه آفت نازل شوی چې په منډه او وېره کښې يې؟ ويې ويل: اوربدلي مې دي چې اوښان د ډبرو راوړلو له پاره نيسي. ورته يې وويل اې بې عقله: ستا له اوښ سره څه مناسبت اومشابهت دی؟ ويې ويل: که چېرې کينه کوونکی د غرض له مخې وايي چې اوښ دی، او ومې نيسي څوك په مې بيا د خلاصون غم وخوري."

سعدی (رح)د ښاريانو د منځنۍ طبقې د لومړنې بشپړتيايي پړاو د روښانفکرانو د طرز تفکر ستر نماينده دی. د دغه ښاري استوګنو د منځنۍ طبقې د خپلې بشپړتيا د پړاو په پيل کښې له اخلاقي تجليلاتو او افکارو څخه يو هم د انساندوستۍ يا مردم ګرايي Humanism مکتب ته ميلان دی. دا نته او پتراك په ايتاليا کښې د دې مکتب ستر نماينده ګان وو.

ستر سعدی (رح) په ايران او خراسان کښې د دې مکتب له مخکښانو څخه شمېرل کېږي د هغه د لارښوونې او زده کړې بايد د ا نسان دوستۍ په معيارونو د ښاري استوګنو د منځنۍ طبقې پورې مربوط روښانفکر له نظره ارياېي شي. تر کومه ځايه چې د جارج برون په قول تحقيق، څېړنه او پلټنه شوې ده ، متاسفانه چې تر اوسه يعنې پنځه سوه کاله وروسته هم نه په اسلامي نړۍ او نه د باختر په مځکو کښې د هغه ساری او مثال ليدل کېږي. د سعدی (رح) اثارو د هغه وخت د ورځنۍ ژوند څخه الهام اخيستی او د واقعيت پر معيارونو سنجول شوي دی. له همدې امله بايد له تناقضاتو سره د مخامخ کېدو په صورت کښې پر هغه په غوسه نه شو، ځکه چې د تناقض په ذات کښې واقعيتونه دي او يوازې د

خیال او مثال په عالم کښې چې کولی شو له هغې څخه سترګې پټې کړو، څوك به دا ونه مني چې هره ښیګڼه او نیکي په یو موقعیت کښې بد او زیان لرونکي وي. په ځانګړې توګه د یو واقعیت لېدونکي سوداګر په معیارونو؟ له بلې خوا له هر عیب نه هم کله په ځینو شرایطو کښې امکان لري سترګې پټې کړای شي.

رښتیا او رښتیا ویل غوره خصلتونه دي. لنډه دا چې د هر لوی حکیم لارښوونې د لوی دریاب په څېر دي چې بې له شکه به یې په غاړو څنډوکښې ناوړه او زیان لرونکي موجودات هم پیدا کولی شو. مګر دا ټول بیا د دریاب دلویوالي، ژوروالي، پاکۍ او مستو غورځنګونو په مقابل کښې هېڅ هم نه دي.

د دغسې داستان یا شعرونو د لوستلو په وخت کښې لازمه ده چې د هغې سبك، بیان او مفاهیم په ځانګړې توګه وستایل شي، د خیال او فکر نتیجه یې واخیستل شي. په پیچلو علمي او هنري موادو کښې د لوستلو چټکتیا کمه وي، مګر تاسې کولی شئ مقالې، کیسې، اخبار او نور مواد په چټکۍ سره ولولئ.

تاسې کولی شئ د لوستلو چټکتیا د مشق او تمرین په اساس د لاندنیو قاعدو په وسیله زیاته کړئ:

۱. اسانه مواد انتخاب کړئ.

۲. مقدماتي سروې وکړئ.

۳. د لوستلو وخت ثبت او پر ځان فشار راوړی چې په چټکۍ سره یې ولولئ.

۴. وخت پر وخت یې تکرار کړئ.

۵. پر اسانه د لوستنې وړ او په زړه پورې موادو باندې تمرین وکړئ.

د مطالعې په فن کښې د لوستلو چټکتیا هغه وخت ممکنه ده چې د مطالعې مواد آسانه وي. د دې له پاره چې په چټکۍ سره یې ولولو لازمه ده چې سترګې په تیز او چټك حرکت عادت کړو. سترګو ته د چټك حرکت ورکولو ښه او غوره لاره دا ده چې لوستل پر هغو کیسو، مقالو سره پیل کړو چې اسانه، په زړه پورې او نا آشنا کلمې پکښې لږې وي.

۶. مواد له نظره تېر کړئ.

لکه څنګه چې مو د تسلط موندنې په تخنیکونو کښې زده کړل، له نظره تېرول د عمده او مهم اوټ لین په خاطر لټون دی. ټول د لوستلو یو نظم او ساختمان لری، لکه چې په درسي کتابونو کښې دغه نظم او جوړښت، د موضوع، برجسته حروفو او نورو اجزاو په شکل نسبت غیر درسي کتابونو ته ښه د پېژندنې او تشخیص وړ دی. داستانونه چې له هغو څخه مو یادونه وکړه له درسي کتابونو څخه بې نظمه دي، خو له دې سره سره هم د

هغې د موادو يوه چټکه سروې لکه، د مقدمې، لومړيو پاره ګرافونو، د متن مهمې جملې، د داستان مهم نومونه او قهرمانان او نورو لوستل به له تاسې سره له موضوع څخه د کلي مفهوم په اخيستلو کښې مرسته وکړي. (تخيلی داستانونه، نه غواړي چې داستان خپل کيفيت او اغېزه له لاسه ورکړي، نو که په دې مرحله کښې ورڅخه سترګې پټې شي، غوره ده).

۷. خپل ځان د مطالعې له شيبو سره عيار کړئ او پر ځان فشار راوړئ چې په چټکۍ سره يې ولولئ. په يوه مجله کښې يو په زړه پورې داستان و مومئ او د هغې په لوستلو کښې خپل ځان په پنځلس (۱۵) دقيقو کښې وازمويئ، چې څو کلمې لوستلی شئ. په لاندينې ګراف کښې د کتنې وړ ريکارډ چې په لومړۍ مرحله کښې پنځه مخونه په پنځلسو دقيقو کښې لوستل شوي دي، د ځان له پاره وکاږئ.



د لوستلو په برياليتوبونو کښې چې ځان ازمويئ، خپل پرمختګ په څو مرحلو کښې يو په بل پسې د پورتني ګراف په څېر ريکارډ کړئ.

له ازمايش کولو څخه دمخه لازمه ده په مشابه مورد کښې يو ساعت له ځان سره تمرين وکړئ او پر ځان فشار راوړئ هر څومره چې امکان لري په چټکۍ سره يې ولولئ.

ستاسې د لوستلو چټکتيا ته پاملرنه او اراده به د دې سبب شي چې لوستل مو په تدريجي توګه لاپسې چټک شي. برسېره پر دې ځان مجبور کړئ چې په چټکتيا سره يې ولولئ. نسبت دې ته چې د قدم وهلو په حال کښې يې لولئ، يا لاس ته حرکت ورکړئ او يا کاغذي کارتونه د کتاب خطونه لاندې ونيسئ. په پيل کښې بنايي تاسې ته دا احساس شي چې تاسې پخپله پاملرنه د لوستلو د برخو يوې برخې ته اړولې ده. خو بيا د څو مخونو له لوستلو څخه وروسته به په دغسې لوړې چټکتيا، دقت او د فکري قوت په تمرکز سره موضوع لوستلی شئ.

رساله تالیف کړم د دې رسالې د لیکلو سبك او روش داسې دی چې لومړی د مربوطې موضوع په هکله معلومات وړاندې کېږي او بیا لوستونکی ته پیشنهاد کېږي چې د موضوع په ارتباط د لوستلو کار د منظمو علمي وظیفو په شکل سرته ورسوي، په عین حال کښې د لوستونکي د علمي او سستماتیکو وظیفو د تمرین لپاره چې د زده کړې د مهارتونو د پیل او ټینګښت ټینګار کوي، هم ځای او امکانات په پام کښې نیول شوي دي. برسېره پر دې د هر فصل په پای کښې مهم مطالب په لنډو جملو کښې شماره وار بیان شوي دي، څو لوستونکي وکړای شي خپل لوستل شوي مطالب بیا ووایي.

د دې رسالې د لیکلو هدف دا دی چې له زده کوونکو سره دا مرسته وشي چې څه ډول د استاد درس ته غوږ کښېږدي او څه ډول نوټ واخلي، په کوم ډول درس ووایي او څرنګه له کتابخانې څخه استفاده وکړي، څه ډول ازموینې ته ځان چمتو کړي او بالاخره د زده کړې او تحصیل له فراغت څخه وروسته د اطلاعاتو او معلوماتو له منابعو (لیکلي او شفاهي) څخه معلومات او مهارت څه ډول په ښه توګه تر لاسه او خپلې ستونزې د علمي څېړنو په رڼا کښې د پخپلې زده کړې له لارې حل او د خپلې پوهې زیاتوالی، چې ډېر لږ پر ښوونکي او استاد او زیات پر خپل ځان تکیه ولري، تر لاسه کړي او د حافظ په قول:

سالها دل طلب جام جم از ما میکرد انچه خود داشت زبیگانه تمنا مکیرد

په پای کښې دا خپله وظیفه بولم چې د اکبر ACBAR موسسې د اریك Eric مرکز او د هغې د څېړونو د کمیټې له غړیو: مېرمن ننسي دوپرې، افغاني پوهانو هر یو حبیب الله رفیع، حسین فخري او زلمي هېواد مل له بې ساري مرستونه چې د دې رسالې د انتخاب او چاپ په مرحلو کښې یې هېڅ ډول لارښوونې او همکارۍ نه دي سپمولي، د زړه له کومې مننه څرګنده کړم.

پوهنمل سید محمد ابراهیم بامیانی

هسې نه د لوستلو په جریان کښې د لوستنې د چټکتیا په خاطر مفهوم ترپښو لاندې کړئ، پرې پوه نشئ او ترې تېر شئ. ځکه چې داسې په تېزه او چټکتیا سره لوستل چې په مطلب او مفهوم يې پوه نه شئ، دنه لوستنې سره برابر دي. چې هېڅ فایده نه لري.
د لوستلو د کیفیت د ښه والي او انکشاف لپاره یو هدفمند پروګرام د پورته په شان کولی شي ستاسې د لوستنې چټکتیا په مجموع کښې له پنځو سو څخه تر سل فیصدو پورې زیاته کړي.

## د مطالعې د پراختیا په اړه یو عمومي نظر

۱. په پراخه او ژوره پیمانه يې ولولئ.
۲. په انتقادي توګه يې ولولئ.
۳. په مناسبې چټکتیا سره يې ولولئ.

## څه ډول کولای شو په اغېزمنه توګه غور کېږدو؟

د زده کړې او تحصیل په دوران کښې او له هغې څخه وروسته د زده کړې یوه طریقه د غوږ اېښودلو مهارت ته پرمختیا ورکول دي. د مثال په توګه د ښوونکی خبرو ته په غوږ اېښودلو او صنفی خبرو اترو په نتیجه کښې هم تاسې هغومره څه زده کوئ، لکه چې د کتاب لوستلو څخه يې زده کوئ. د اورېدلو مفهوم محض آواز ته غوږ اېښودل نه دي، بلکه د کتاب د اغېزمنې لوستنې په څېر یوه فعاله روحي عملیه ده. یو ښه اورېدونکی د ښه لوستونکي په څېر په ثابته او پرله پسې توګه د اړوندې موضوع په هکله فکر کوي او هغه ارزیابي کوي، له خپلو تجربو سره يې مقایسه او ارتباط ورکوي.
تجربو ښودلې ده چې زیات شمېر زده کوونکي د اورېدلو په جریان کښې تقریباً پنځوس فیصده عمده مفاهیم او شپېته فیصده د موضوع تفصیلات نشي تعقیبولی. آیا پوهېږئ چې ولې؟
ځواب يې دا دی چې هغوی په وړاندې شویو مفاهیمو نه پوهېږي. خو د زیاتو زده کوونکو ستونزه په دې کښې ده چې هغوی پخپل ځان کښې د اورېدلو مهارت ته پرمختیا او انکشاف نه دی ورکړی. دغه مهارتونه د لوستلو مهارتونه دي. که چېرې تاسې خپل د اورېدلو مهارتونو ته وده اوانکشاف ورکړئ، ستاسې په نورو تعلیمي مهارتونو کښې به هم پر مختیاوې راشي.

موږ هر یو د خپل ژوندانه په جریان کښې ځو ځو ځله د لوستلو او اورېدلو عملیه سرته رسوو.[1] آیا کله مو دا فکر کړی چې د نورو د خبرو کولو په وخت کښې مو هغوي ته ترکومې اندازې غوږ نیولی دی؟ تاسې هره ورځ د کورنۍ دغړو، دوستانو، همکارانو او هغه چاته چې په سرك، پارك، سروېس، مغازو او نورو ځایونو کښې خبرې کوي او تلیفون. راډیو، تلویزیون او فلمونو ته غوږ نیسئ. کله چې وظیفې ته داخلېږئ د خپل کار لارښوونکي، امر ته اوستاسې د کار د ښه والی په ارتباط خبرو اترو ته باید غوږ ونیسئ، ځکه چې ستاسې کار په همدې ویلو او اورېدلو پورې مربوط دی. ستاسې د کار پر مختګ تر زیاتې اندازې پورې ستاسې د اورېدلو په څرنګوالي پورې اړه لري.

تاسې له مخکنیو تجربو څخه هم پوهېږئ چې ماهرانه اورېدنه تر کومې اندازې په ټولنیز او کورني ژوند کښې ارزښتناکې اغېزې لري. تاسې په دې هم پوهېږئ چې څومره د شرم وړ خبره ده چې یو شخص په خبر اترو او ویلو اورېدلو کښې له دې امله چې ښه اورېدونکی نه دی، تر تهدید لاندې واقع کېږي. کله چې تاسې په ټولګي کښې یاست، هغه څه چې ویل کېږي هغه باید واخلئ. ښوونکی به په ټولګي کښې تاسې ته هغه مواد او معلومات ووایي چې امکان لري ستاسې په درسي کتاب کښې نه وي. هېڅ وخت باید د هم ټولګیانو په مرسته تکیه ونه کړئ چې د ښوونکي خبرې د هغوی له خولې واورئ. هېڅوك ستاسې پر ځای غوږ نه شي نیولی. بناءً ستاسې د اورېدلو د مهارت انکشاف ستاسې د مکتبي همکاریو د ښه والي او ا نکشاف سبب ګرځي. ستاسې اغېزمنه اورېدنه له تاسې سره دامرسته کوي چې د نورو له محاورې څخه نوې کلمې زده کړئ او په جملو کښې د هغو د استعمال صورت هم زده کړئ.

ستاسې اغېزمنه اورېدنه د زده کړې په پروسه او ټولنیز ژوند کښې ډېره مهمه ده، خو دا کار اسانه نه دی.

راشئ چې دې اوو علتونو ته وګورو چې ولې اورېدل مشکل کاردی:

۱. هغه ګامونه چې وینا کوونکی یې اخلی، ستاسې له پاره نه دي. د اورېدلو په جریان کښې باید له خبرې کوونکي سره په ذهني او روحي سفر کښې هم لوري او هم سرعته اوسئ. امکان لري وینا کوونکي ډېر په تېزه او یا په سسته داسې خبرې وکړي چې تاسې خپل فکري تمرکز له لاسه ورکړئ او په څه شي ونه پوهېږئ.

---

[1] د نالوستو وګړو د زده کړې ټولې عملیې د اورېدلو له لارې صورت نیسي.

۲. امکان لري تاسې ونه کړای شئ چې د اورېدلو وخت او ځای انتخاب کړئ. تاسې به مجبور یاست چې په مشکلو حالاتو کښې د خپلې توجه او پاملرنې د تمرکز په خاطر د خپل توانی وضعې ته توافق ورکړئ. هر کله چې د دقیقې مطالعې په اثر تاسې ته د سردرد پیدا شي، کولی شئ چې کتاب یوې خواته کښېږدئ. دمه وکړئ او خپله ستومانی وباسئ. خو په ټولګی کښې د لکچرونو او خبراترو د اورېدلو په وخت کښې دا کار امکان نه لري. تاسې باید تر هغې اندازې پورې واورئ چې کولی شئ، حتی که ناروغ هم یاست.

۳. امکان لري په ټولګي د اخلال نښې نښاني موجودې وي. لکه مخالف جنس ته توجه جلبېدل، د هم ټولګیانو په ورو- ورو خبرې (پس-پس) او داسې نورې پیښې چې وینا کوونکي د خبرې د اورېدلو او تعقیبولو په کار کښې ستاسې د اغېزمنې اورېدنې د کمزورتیا سبب شي.

۴. لکچر، خبرې اترې او مکالمې. لکه دالوتونکو په څېر په چټکی سره الوزي. هغه څه چې په یوه شېبه کښې ویل کېږي، په نورو شیبو کښې الوزي. تاسې د وینا کوونکی د درس او وینا د چټکوالي له مخې د بیاویلو وخت نه لرئ او کلمې نه شئ تکرار ولی، په دې صورت کښې که تاسې په ژوره توګه غوږ ونه نیسئ، له وینا کوونکي څخه څه نه شئ زده کولی.

۵. هغه څه چې تاسې ته د یادولو له پاره ویل کېږي باید ستاسې له خوا تشخیص او ارزیابی شي. مګر دا کار چې هم یې واورئ او هم یې ارزیابي کړئ ډېر مشکل دی.

۶. د وینا کوونکي شخصیت او د هغه د مطالبو وړاندې کول امکان لري تاسې د هغه دوینا له ساحې څخه بهرون کړي. که چېرې وینا کوونکی هغه څه چې وایی، پرې باورونه لري تاسې یې استنباط کولی شئ چې هغه د خپلې وینا پر موضوع نه پوهېږي. امکان لري هغه تاسې ته با ارزښته شیان وړاندې کړي، بنه داده چې د هغه د وینا تر پای پورې خپل د قضاوت طرزمه څرګندوئ.

۷. د وینا کوونکی په مقابل کښې ستاسې د هم ټولګیانو عکس العمل، او د هغه تهیه شوی مواد ستاسې پر قضاوت باندې په مطلوب وې او که یا په نامطلوب شکل، اغېزه کوي او ستاسې دسمې پوهېدنې او ارزیابی په وړاندې خنډ کېږي.

دا په ټولګی کښې د اغېزمنې اورېدنې ستونزې او مشکلات دي. خو هوډ او اراده باید له لاسه ورنه کړئ. تاسې کولی شئ خپل د اورېدلو وظیفو او مهارتونو ته وده او انکشاف ورکړئ او خپل د زده کړې په کارونو کښې، که په ټولګی کښې دننه وي او که له هغې څخه تر فراغت وروسته، د یو ښه اورېدونکي په توګه له مخکښې څخه زیات بریالیتوبونه تر لاسه کړئ.

## لومړۍ وظیفه:

د اورېدلو له پاره په دقیقه توګه چمتو والی ونیسئ. که چېرې د لکچر د موضوع یا د مضمون په هکله مخکښې له مخکښې معلومات لرئ په دوو طریقو ځان چمتو کړئ:

١. پر هغه څه چې د موضوع په هکله د مخه پوهېږئ، تکرار وکړئ.

٢. تر ممکنې اندازې پورې موضوع ولولئ، ځکه چې د اورېدلو ورځ موضوع په هکله مخکښې لږ معلومات هم له تاسې سره مرسته کوي.

که چېرې تاسې د مورد نظر موضوع په هکله لږو ډېر آشنایي لرئ، کولی شئ په ژوره او دقیقه توګه یې واورئ. په نوټ اخیستلو کښې وارخطا نه شئ او د موضوع یوه لوړه فیصدي د ماهرانه اورېدلو په وسیله زده کړئ.

## دویمه وظیفه:

د اورېدلو په جریان کښې د مهمو او عمده مفاهیمو په لټه کښې اوسئ. د وینا کوونکي د خبرو په پیل کښې (لکچر، مباحثه، کنفرانس) کښې باید دې ته پاملرنه وکړئ چې وینا کوونکی په خپله وینا کښې څه هدف لري؟ کومو مفاهیمو ته غواړي انکشاف ورکړي؟ هر ډول پوهه او معلومات چې د لکچر په هکله پیدا کړئ د اورېدلو پر وخت له تاسې سره دا مرسته کوي چې دې پوښتنو ته ځواب ووایئ: مثلاً: د ښوونکي دوینا په پیل کښې د عمده مفاهیمو پیدا کولو ته خپله ذهني پاملرنه واړوئ. ځینې وختونه وینا کوونکی ښایي په پیل کښې د عمده مفاهیمو په یو لست سره تاسې ارزیابی کړي. دمثال په ډول: امکان لري ښوونکی د کامرې Camera د عدسیې په هکله خپله وینا داسې پیل کړي: "زه غواړم چې د عکاسۍ کامرې د ښې عدسیې څلور عمده خصوصیتونه تاسې ته توضیح کړم: هغه عبارت دي له: د فوکس اوږدوالی، چټکتیا، د آخذې قوت یا قدرت او د ساحې ژوروالی" د خپلې وینا په پای کښې امکان لري د کامرې د عدسیې د څلورو

خصوصیتونو په هکله خبرې را لنډې کړي. که چېرې لکچرونه مباحثات او کنفرانسونه همېشه داسې برابر او تنظیم کړای شي د اورېدلو کار اسانه کوي. هر کله چې وینا کوونکی یا ښوونکی د خپلو خبرو په پیل کښې د مهمو او عمده ټکیو یادونه ونه کړي، په هغه صورت کښې نو بیا خپل ټول توان او قوت د دې لپاره په کارواچوئ چې څنګه عمده ټکی پیدا کړئ.

د عمده او مهمو مفاهیمو د پیدا کولو یوه لاره دا ده چې ټول مهم ټکي یادداشت کړئ. دوینا کوونکي د وینا په پای کښې به څرګنده شي چې ستاسې د یادداشت شویو مفاهیمو له جملې څخه اصلي او مهم ټکي کوم دي.

دغه کار به په هغه صورت کښې امکان ولري چې په ژوره توګه پاملرنه وشي او په مقایسوي شکل له ټولو ټکیو څخه عمده او مهم مطالب تشخیص کړئ. د وینا کوونکي لکچر ته د غوږ نیولو په وخت کښې باید له مورد نظر موضوع څخه پرته د نورو احساسات پارونکو تبصرو او ظریفانه خبرو اترو ته پام وانه ړوئ او پرې مصروف نشئ.

باید په یادولرئ چې د موضوع په هره برخه کښې عمده او مهمو مفاهیمو او ټکیو ته پاملرنه وکړئ. نو لازمه ده چې د مورد نظر موضوع د اورېدلو په وخت کښې هغو ټکیو ته پام وکړئ چې پرې تاسې ته پوهېدنه د آزموینې او پوهې له مخې ضروري ده. دغه کار د مخکیني چمتووالی او د دغه ډول کلمو د مفاهیمو اړیکو، لکه: "تر هر څه د مخه"، "هېڅ شی له دې څخه مهم نه دی" "د دې علت چې په دې ډول دی دادی" " په دویم قدم کښې په دې پورې مربوط دي چې" ، "د ټولو له جملې څخه باید داهېر نه کړو" له مخې تر لاسه کېږي.

کوم بل شي چې د اورېدلو په ارتباط مهم او اغېزمن دی دا دی چې د صنفي مباحثو په اساس باید د ویونکی د وینا په متن کښې د عمده مفاهیمو د لټولو او تصنیف لپاره باید پرله پسې مشقونه او تمرینونه وشي.

## درېمه وظیفه:

څرنګه چې د مورد نظر موضوع په باره کښې د مخه لوستنې چمتووالی لرئ او د ویونکي وینا ته مو په ژوره توګه پاملرنه کړې ده، کوښښ وکړئ چې عمده او مهم ټکي بېرون نویس کړئ او نوټ یې واخلئ.

اوس نو غواړئ چې له دغې موضوع نه چې په ماهرانه توګه مو اورېدلې ده، همېشنی ریکارډ له ځان سره ولرئ. ځکه چې په پورتنیو خصوصیاتو برابره نوټ لرنه له هغه ماخذ څخه ښه او غوره ده چې هغه یوازې په کتابخانه کښې تر لاسه کېدای شي اویا له

هغه کتاب څخه چې له کتابخانې څخه يې امانت واخلو او بايد بېرته يې په ټاکلي وخت وروسپارو. خو يادداشتونه مو خپل شخصي ملکيت دی. د آزموينې په وخت کښې له تاسې سره مرسته کوي. ځکه چې يو لړ مربوط او لنډ يادداشتونه د زده کړې او معلوماتو د تکرار لپاره ډېر ګټور او اسان دي. نوټ اخيستل تاسې لازماً ژورې پاملرنې ته اړباسي، تر څو هغه څه چې ويل کېږي لومړی په حافظه کښې نقش شي او بيا د کاغذ پر مخ. دا عمليه پخپله روحي ارزښت لري چې د مفاهيمو اورېدلو په وخت کښې توجه او ارزيابي کېږي او بيا نوټ اخيستل کېږي.

دغه ډول د مربوطو موضوعاتو په اړه يادداشتونه ارزښتناکې علمي زېرمې دي چې د اړتيا په وخت کښې ور څخه استفاده کېږي.

خو دغه علمي زېرمې هغه وخت ګټورې ثابتېږي چې د موضوع د اورېدلو په جريان کښې لاندېني ټکي يادداشت شي:

۱. عمده او مهم نظريات او مفاهيم.

۲. د دې نظرياتو د مفاهيمو کلي.

۳. خاصې کلمې، نومونه، د ويناشکلونه (لکچر، مباحثه، کنفرانس) تاريخ، او نور څه چې امکان لري مهم وي.

۴. هره يوه مهمه کلمه او لغت چې د هغې مفهوم تاسې ته قسماً نامانوس ښکاره شي.

د اورېدلو په وخت کښې نوټ اخيستل هم د لوستلو او نوټ اخيستلو په اندازه اسانه کار نه دی. ځکه چې په يو وخت کښې د دوو کارونو کول به امکان ونه لري. تر ټولو مشکله لا داده چې ويناکوونکي خپلې خبرې نامنظمه او بې ترتيبه کوي، خو تاسې د يو ښه او غوره اورېدونکي په توګه له يو فوق العاده امتياز نه برخمن ياست. يعني داچې تاسې د وينا په څلور چند تېزوالي دوينا په مقابل کښې او د هغه ويناکوونکي په مقابل کښې چې ستاسې د تفکر يو پرڅلور برابره تېزدی. تاسې له ښه موقعيت نه برخمن ياست.

ځکه برسېره پردې چې تاسې ته د نوټ اخيستنې لاړې چارې برابرې دي د وينا کوونکي د وينا د مخکښې او وروسته په هکله فکر هم ستاسې په کنترول کښې دی، په همدې اساس تاسې کولی شئ خپل نوټ، د تېرو شويو مفاهيمو او هغه څه چې په راتلونکو شيبو کښې ويل کېږي، د يو پُل په توګه چمتو (آماده) کړئ. همدغه د واضح او بشپړ نوټ اخيستنې رمز دی. په نورو ساعتونو کښې هم بايد د پورته څلورو عمده او مهمو ټکيو په څېر نمرې واخلئ. له خپلې هرې شيبې څخه ماهرانه استفاده وکړئ. په همدې ترتيب له

راډیو، ټلویزیون، تلیفوني خبرو اترو څخه د خپلو مسلکونو په هکله معلومات را ټول او تر لاسه کړئ.

البته، لکه څنګه چې د مخه یادونه وشوه نوټ اخیستل اسانه کار نه دی، خو که خپل ځان د نوټ اخیستني لپاره په ماهرانه توګه وروزئ. برسېره پردې چې ښه نوټ به واخیستلی شئ، ښه اورېدونکي به هم شئ.

دلته د مثال په ډول په ټولګي کښې د درسي نوټ د یوې طریقې یا دونه کووا ودا توضیح کوو چې نا آشنا کلمې څه ډول په نخښه شي.

د یو لکچر نوټ مثال (له پاکنویس کولو څخه دمخه) چې د ځنګلونو په ارتباط د لکچر په وخت کښې د زده کوونکي له خوا اخیستل شوی دی.

# د ځنګلونو ارزښت

"پخوا ځنګلونو د نن په څېر اقتصادي او اقلیمي ارزښت نه درلود، بلکې د پخوانیو انسانانو په نظر داسې شی ؤ چې باید د دوی تر کنترول او واک لاندې وي او د زراعتي ځمکو او استوګنو دکورونو د جوړولو لپاره یې د هغو له مینځه وړل ضروري ګڼل. په اوسني عصر کښې زیاتې اړتیاوې، له زانګو څخه نیولی تر تابوت پورې له لرګیو څخه جوړېږي. د کور ډول ډول سامانونه، لکه: مېز، چوکۍ او ځینې سپک ماشین آلات او په سل ګونو نور شیان، د هغو له جملې څخه کاغذ هم له لرګیو څخه جوړېږي.

نور څه چې له لرګیو څخه لاس ته راځي هغه له مغز، خشاك، شکرې او سکرو څخه عبارت دي، دونو شته والی د زراعتي زمکو رطوبت ساتي، د الوتونکو او وحشي حیواناتو د استوګنو او مهاجرت ډاډمن ځایونه دي، سیوری، ښېرازي او ښکلي منظرې هم دونو له ضمني ارزښتونو څخه شمېرل کېږي. د اقلیم (سړوالی او تودوالی) په بدلون کښې دونو تاثیر مهم عامل دی. برسېره پردې څېړۍ او زیتون لرګي د کښتیو په جوړولو او مغز لرونکو میوو له امله زیات ارزښت او اهمیت لري.

## څلورمه وظیفه:

بې له دې چې د ویونکي وینا په استثنایي توګه تنظیم شوې وي. له هغې څخه نوټ اخیستل به په مطلوب شکل منظم نه وي. علت یې دادی چې د ویونکي خبرې زیاتره وختونه غیر رسمي، غیر ادبي او غیر منطقي وړاندې کېږي. په دغسې شرایطو کښې چې

د نوټ اخيستلو په وخت کښې اضافي وخت نه وي، مګر دا چې نوټ اخيستونکی په نامنظمه توګه په چټکۍ سره د ويونکی د وينا مفاهيم پر کاغذ وليکي. د مثال په توګه ويونکی دا ډول جملې وايي: "منظور مې د مخکينۍ خبرې تائيد دی." چې اورېدونکی ډېر لږ وخت لري، چې تېر شوي نوټ ته په شا ولاړ شي او هغې خبرې ته په هغه ځای کښې ارتباط ورکړي. بلکې هغه څه چې کولی شي د ويونکی راتلونکې وينا ته دې منتظر شي او د نوټ د خلاصېدو وروسته همدغه تائيدي جمله د نوټ پورې مربوط په هماغه برخه کښې د نوټ د بيا ليکلو او پاکنويس کولو په وخت کښې وليکی.

په هره اندازه چې تاسې ښه غوږ نيوونکي اونوټ اخيستونکي ياست بيا به هم ستاسې لومړني نوټونه بې له نوې کتنې او بيا ليکنې څخه د تل لپاره د ډاډمنې استفادې وړ او قانع کوونکي نه وي.

نو بيا لازمه ده چې له نوټ اخيستنې څخه وروسته بې له ځنډه د بيا کتنې له مخې نوټ پخپله کتابچه کښې په لاندې ترتيب وليکئ:

١. کوم ټکي چې له تاسې څخه په نوټ اخيستلو کښې مشکوک پاتې دي، د هغو د واضح کولو او پرې پوهېدلو نه وروسته يې پخپله ليکنۍ ژبه ريکارډ او ثبت کړئ.

٢. د ويونکی په وينا کښې ستاسې د نظر وړ ټکي به د موادو او متن د بيا ليکلو او تنظيمولو په جريان کښې په ښه او غوره توګه ستاسې په ذهن کښې کښېني.

٣. تاسې به د پوهېدنې وړ، منظم او د استفادې وړ ټکي په خپل نوټ کښې داسې تهيه او برابر کړئ چې د اړتيا په وخت کښې به تاسې ته معتبر ماخذ ستاسې د معلوماتو منبع وي. راشئ چې ستاسې مخکښې اخيستل شوی نوټ، چې دونو او ځنګلونو په باره کښې و، را لنډ او د دغه کار تمرين پرې تر سره کړو.

# دو نوآرزښت

دونو حاصلات:

لرګي (يو ډېر غوره او د اړتيا وړ طبيعي پيدا وار)

کتاب، سکاره، الکول، لرګی

جوړښت: د کور وسايل، سامان الات او کاغذ

## د ونو نور حاصلات:

میوې، مغزباب، مخصوص شربت، د افراد له ونې یا سیاه چوب څخه هغه ماده چې په چرمګرۍ کښې د رنګ کولو لپاره پکارېږي هم له ونې څخه په لاس راځي.

## د ژوند پر چاپېریال باندې د ونو ګټورې اغېزې:

د خاورې ساتنه، د سیلاب او طوفان کنترول، د خاورې تقویه، لکه د هیومس یا ګیا لرونکې خاورې.

د حیواناتو لپاره د غذا منبع، د وحشي حیواناتو او الوتونکو لپاره د ژوند استوګنځي، طبیعي ښکلا او د طبیعي منظرو جوړول.

## د نورو عواملو په توګه دونو استعمالول:

سیورې، بادماتوونکی، د هوا د ککړتیا تصفیه او پاکول، د کلي منظرو تشکیل او نور.

## د خېړۍ ونه دونو د ارزښتناکې بېلګې په توګه:

په هر ډول اقلیم کښې شنه کېږي، سخته او مقاومه ده. د سپینې خېړۍ مقاومت په فی واحد کښې فوت مکعب دی. په کښتۍ جوړولو، د لاسي وسیلو، لکه: لور، ترخځ، آره، او تبر د لاستي جوړولو لپاره پکارېږي.

## د اصطلاحاتو او کلماتو پېژندنه:

۱. د حیواني غذا منبع: د غوا او نورو وحشي حیواناتو لپاره د غذا تهیه او برابرولو ځای.

۲. باد ماتوونکی (بادشکن): ونې د باد تېول جریان په خو کوچنیو جریانونو ماتوي (ویشي) سرعت او تېزوالی یې کموي او د تخریبي قوت مخه یې نیسي.

۳. استوګنځی (د اوسېدو ځای): په کوم ځای کښې چې حیوان او نبات ژوند کولی شي.

۴. تین ماده: هغه ماده چې له ونې څخه د حیواناتو د پوستکي (چرم) په رنګولو کښې پکارېږي.

دلته تاسې ته د خپل مورد نظر نوټ د نوي کتنې په هکله څو پېشنهادونه وړاندې کېږي:

لومړی: خپل نوټ په انتقادي توګه ولوله او له لږ اهمیت لرونکو ټکیو څخه یې صرف نظر وکړئ. د مثال په ډول دونو په نوټ کښې کولې شئ "له زانګو څخه تر تابوت پورې له لرګي جوړېږي." جمله حذف کړئ.

د نوټ له بیا لیکنې څخه د مخه تر مهمو ټکیو لاندې په سره یا شنه رنګ خط کش کړئ.

دویم: د نوټ ترتیب او تنظیم باید په منطقي شکل فهرست شي. د مثال په څېر کار پیل او پای ته ورسوئ. په دې ځای کښې مهم مفاهیم په شپږو ګروپونو کښې عنوان او رالنډ شوي دي. د شپږ وګرو پونو له جملې څخه د هغوی ډېر مهم مفاهیم چې د ونو له حاصلاتو څخه عبارت دي، په دوو عنوانونو کښې را لنډ او خلاصه شوي دي.

او د مفاهیمو دوه نور ګروپونه چې د ځنګلونو له اغېزو څخه عبارت دي تر ځانګړو عنوانونو لاندې او بالاخره دوه نور ګروپونه د توضیحاتو او مثالونو څخه په دوو وروستیو عنوانونو کښې خلاصه شوي دي.

امکان لري تاسې مفاهیم په ډله کښې خلاصه او بیا وروسته یې په کوچنیو ډلو وویشئ. یو ساده او لنډ اوټ لین له یو پیچلي او مشرح اوټ لین څخه ښه او غوره دی.

د نوټ د بیا لیکنې پر وخت کښې، د نوټ مفاهیم پخپله لیکنۍ ژبه او په هغو الفاظو او کلمو چې تاسې ته آشنا او با مفهومه وي، راوړئ.

ځکه چې دا کار ستاسې د ډاډ له پاره، په دې خاطر چې که د نوټ پر مفاهیمو پوهېدلی یاست، آیا کولی شئ هغه د خپلو الفاظو او عبارتونو په قالب کښې راولئ، او ستاسو د زده کړې په اندازه کښې یو ښه ازماینښت هم ګڼل کېږي.

د ښوونکي او یا د مضمون د ویوونکي له پوښتنو څخه خپل اخیستي نوټ ته کتنه وکړئ او د هغو له ممکنه ځوابونو څخه هم د خپل نوټ په برابرولو، منطقي، ساده او نوې کتنه کښې استفاده وکړئ.

د لکچر په دوران کښې له هغه مهمو ټکیو څخه دایره وکاږئ چې مفهوم یې تاسې ته نامانوس و. که د هغې په شان له نورو نامانوسو او نا آشنا کلمو سره مخامخ شوئ، باید چې فرهنګ ته مراجعه وکړئ او د هغې لغت مفهوم له جملې سره د قرینې له مخې پیدا

# له درسي کتاب څخه استفاده

یو له هغو کارونو څخه چې د محصل په توګه یې باید سرته ورسوئ، امکان لري د درسي کتاب د یوه فصل او یا ټول کتاب لوستل او پرې پوهېدل وي. څنګه کولی شئ دا کار په بریالیتوب سره سرته ورسوئ؟ څنګه د لوستلو په جریان کښې داسې نظم او ترتیب په پام کښې ونیسئ چې جز ته له کُل او کُل ته د کتاب د متن له اجزاوو سره ارتباط ورکړئ؟

څرنګه اوڅه شیان د کتاب د لوستلو په جریان کښې یاد داشت کړئ؟ آیا ټول هغه څه چې لولئ خپلې حافظې ته یې سپارئ؟

کولی شئ پورتني ځوابونه د مطالعې د هغه سیستم پر اساس چې د ماهرانه تسلط موندلې تخنیك نومېږي، تر لاسه کړئ. دغه تخنیکونه به له تاسې سره مرسته وکړي چې د لوستلو او مطالعې د وظیفو په لړ وخت کښې زیات معلومات او اطلاعات په مطلوبه اغېزمنتیا سره تر لاسه کړئ.

دغه تخنیکونه له دې لاندنیو مرحلو څخه جوړ دي:

۱ مقدماتي سروې Previewing

۲ لوستل Reading

۳ یاد داشت اخیستل Note Taking

۴ حافظې ته سپارل Remembering

سره له دې چې پورتنی شمېرنې بېلې بېلې لیکل شوې دي، مګر په زیاترو وختونو کښې له دغو څخه هره یوه عملیه له بلې سره د متممی په توګه تر استفادې لاندې نیول

کړئ. په دغسې کلمو پوهېدنه به د مضمون په ارتباط ستاسې په پوهه کښې نوي معلومات زيات کړي.

که چېرې ستاسې نوټ په منطقي توګه ترتيب شي، د اړتيا په وخت کښې کولى شئ په اسانى سره د هغې د مفاهيمو يادونه وکړئ. ځکه چې په تکراري توګه د نوټ ليکنې په جريان کښې د مفاهيمو زياته برخه ستاسې په ذهن کښې ناسته ده چې دا دى اوس به په ډېر لږ وخت کښې په چټکى او اغېزمنه توګه هغه زده کړئ.

د لاندينيو پېشنهادونو په پام کښې نيولو سره د مفاهيمو اود نظر وړ معلوماتو د هميشني ريکارډ له پاره خپل نوټ په منظمو پاڼو کښې وليکلئ:

که چېرته په پام کښې وي نو د هغې لکچر او مباحثې له پاره چې د ټولګي په داخل کښې تر سره کېږي، خپل ځان داسې چمتو کړئ:

الف: مضمون، موضوع او يا پوښتنه چې بايد ځواب ورته تهيه شي، طرح او مشخص کړئ.

ب: د علمي غونډو ډول، لکه لکچر، مباحثه او کنفرانس، ځانته معلوم کړئ.

ج: د هغې ټاکلي تقسيم اوقات يادداشت کړئ.

د: په هغه څه چې د مباحثې د موضوع او مضمون په هکله له مخکښې نه پوهېږئ، هغه را لنډ او ځان پرې مسلط کړئ.

ه: داسې يو کتاب پيدا کړئ چې د مورد نظر علمي غونډې د جوړېدو د مضمون او موضوع په ارتباط معلومات ولري، د مولف نوم، د کتاب عنوان او د چاپ نېټه يادداشت کړئ.

و: د کتاب هغه برخه چې له موضوع سره ارتباط لري، لکه د هغې يو فصل او د مقدمې يوه برخه يې په دقت سره يادداشت کړئ.

ز: په اړونده علمي غونډه لکه په لکچر، مباحثه او کنفرانس کښې د ګډون په وخت کښې د نوټ اخيستنې د تخنيکونو په اساس لنډ نوټ د همدغو يادداشتونو په دوام او په ځانګړو پاڼو کښې وليکئ.

ح: د علمي غونډې (لکچر، مباحثې او کنفرانس) له پاى ته رسېدو وروسته د وينا کوونکي يا وينا کوونکو عمده ټکي لست کړئ.

ط: د خپل مخکينى او د اوسني وينا کوونکي د يادداشتونو له مخې هميشني يادداشت برابر کړئ، تر څو په نومړو موضوعاتو کښې په لوړه پيمانه معلومات تر

لاسه او ضروري زده کړه تاسې ته ښه اغېزمنه شي. په پای کښې باید په لنډه توګه يادونه وکړو چې:

۱. خپل ځان د وینا کوونکي د مطالبو غوږ نیولو ته چمتو کړئ.
۲. د غوږ نیولو په جریان کښې مهمو او عمده ټکیو ته پاملرنه وکړئ.
۳. د غوږ نیولو په جریان کښې عمده ټکي یادداشت کړئ.
۴. خپل اخیستی نوټ له نوي کتنې او پاکنویس کولو څخه وروسته د راتلونکو اړتیاوو په خاطر دریکارډ په توګه له ځان سره وساتئ.

# د آزموینوله پاره چمتووالی (آمادګی)

د آزموینو لپاره ډېر ښه چمتووالی د مربوطو درسونو په هماغه ورځ لوستل دي. که چېرې تاسې هغه مهارتونه چې په مخکنیو فصلونو کښې توضیح شول د آزموینو د چمتووالی لپاره وکاروئ، د لوستلو په جریان کښې له هغه تخنیك څخه علمي استفاده وکړئ، لکه حافظې ته سپارل او تکرارول.

تاسې باید د آزموینې کار د آزموینو په شپو او حتی له هغې نه یوه اوونۍ مخکښې هم مه پرېږدئ. بلکه هغه باید د تیاری درس له جریان سره موازي کړئ. که چېرې تاسې د مخکنیو فصلونو پېشنهادونه تطبیق کړئ د هغې مثبتې نتیجې به په امتحان کښې درته څرګندې شي.

له دې سره سره هم باید امتحان ته چمتوالی ونیول شي، پرابلمونه حل او بېرته یې په یاد راولئ هغه څه چې مو د سمستر په پیل کښې لوستي دي. که چېرې تاسې دا ټول مواد له آزینی څخه یوه اوونۍ مخکښې ته پرېږدئ، په دغه صورت کښې باید تاسې په ډېر لږ وخت کښې زیات شیان ولولئ چې نتیجه به یې هم نا مطلوبه وي. پخپلو ساعتونو کښې د استادانو له خوا د آزموینې د موضوعاتو په باب ضمني تکرار به هم له تاسې سره مرسته وکړي. خو د یو زده کوونکي په توګه ستاسې وظیفه داده چې درسي کتاب له پیل څخه تر پایه پورې په ټاکلي وخت کښې ولولئ او نوټ یې واخلئ. دغه کار په میاشت کښې یو ځل وکړئ. د درسونو پر تکرار برسېره تاسې ته توصیه کېږي. چې له آزموینې څخه دمخه په هره میاشت کښې یو ځل د آزموینې لپاره یو لږ تکرار او نوې کتنه په خپلو درسونو کښې وکړئ.

وروسته مخونه به تاسې ته دروښيي چې د آزموينې وړ موادو د لوستنې لپاره په ځان کښې چمتووالي را مينځ ته کړئ.

## لومړۍ وظيفه:

د لوستلو په پروګرام کښې ټاکلی مهال وېش تعيين او هغه تعقيب کړئ. تاسې به دا اړتيا ولرئ چې د خپلې مطالعې تقسيم اوقات يوې يادوو اوونيو لپاره له صنفي آزموينې څخه يوه يا دوه ورځې دمخه عيار کړئ. دغه ډول چمتووالی ارزښتناك دی، ځکه چې تاسې ته دا ډاډ درکوي چې آزموينه بې له وارخطايۍ څخه تېره کړئ. خپل تقسيم اوقات داسې جوړ کړئ چې د هر مضمون لپاره ورځ، او دهغې د لوستلو ساعت د هغې له رارسېدو څخه د مخه ټاکلی شوي وي.

لاندېني پېشنهادونه به له تاسې سره مرسته وکړي:

١. د آزموينې د ساعتونو د چمتو والي له پاره بايد لږ تر لږه يو نيم ساعت د مخه پلان جوړ کړئ.

٢. د هر مضمون د لوستنې لپاره بايد د کوچنۍ آزموينې لپاره له دوه ځلې او د لويې آزموينې لپاره له درې ځلې څخه زيات وخت وټاکئ.

هېڅکله بايد د آزموينې لپاره يوولس ساعته، په پرله پسې توګه په ميخانيکي توګه په حفظ کولو مه تېروئ.

اوس نو د راتلونکې آزموينې د تېرولو د چمتووالي لپاره تقسيم اوقات جوړ کړئ.

### د آزموينې لپاره د لوستنې مهال وېش (تقسيم اوقات)

| مضمون | ورځ | ساعت |
| --- | --- | --- |
| ........ | ........ | ........ |
| ........ | ........ | ........ |

## دويمه وظيفه:

د مضمون د لوستلو لپاره يو د خپل کنترول لاندې اوټ لېن جوړ کړئ. په اوټ لېن کښې د يو مضمون آزموينې ته د چمتووالي لپاره د مطالعې ساعتونه او د لوستلو وړ موادو لپاره داسې يو اوټ لېن جوړ کړئ چې کوم- کوم شيان بايد ولوستل شي. ستاسې

اوټ لین لنډې جملې او فقرې دي چې له درسي نوټ، د مباحثو نوټ او نورو متممو او مرستندویه موادو څخه ترکیب او جوړ دی.

د اوټ لین جوړولو کار په ځانګړې توګه تاسې ته یوه فوق العاده تکراري او د زده کړې وړ عملیه ده. کله چې مو اوټ لین جوړ کړ هغه په تکراري توګه ولولئ، د هر بحث نظریات او حقایق چې یو له بله سره ارتباط لري، هغه حافظې ته وسپارئ د یو لنډ او با مفهومه اوټ لین مثال په لاندې کرښو کښې وګورئ.

دغه اوټ لین د یو مضمون "مطالعې اصول" آزموینې ته د تیاري نیولو لپاره، چې د دې کتاب د لومړیو څلورو فصلونو مطالب پکښې نغښتي دي، جوړ شوی دی. لنډیز او هغو نخښونښانو ته وګورئ چې د عمده او مهمو مفاهیمو لپاره لیکل شوي دي. دا مو باید په یاد وي چې هر زده کوونکی به د خپل لنډیز لیکنې په سبك اوټ لین جوړ وي.

د آزموینې له پاره د چمتو والي د یو لنډ اوټ لین مثال:

آزموینه د کتاب د لومړیو څلورو فصلونو په هکله ده:

مقدمه- د اغېزمنې مطالعې ښیګنې

الف- د کار کیفیت ب- خوبنی راوړنکی

ج- د فراغت وخت د- روحي سکون او زړورتیا (اطمینان)

## د ماسترۍ تخنیک:

الف- نظر اچول (نظر اندازی)

۱. د سیټونو مرحلې ۲. له ونو څخه د مخه ځنګلونه

۳. قوانین

الف: جدول او فهرست ب- عنوانونه

ج: لومړنی او وروستنی پاره ګراف د- فهرست واره موجود دی

I. لوستل

۱. څه دی؟

الف- تفکر ب- پېشګویي

II. د لغتونو له پاره قواعد

الف- نخښه او علامه گذاري ب- متن او قرینه
ج- ډیکشنري د- ریکارډ
هـ- استعمال

III. د لوستلو او پوښتنې کولو قواعد
الف- د پوښتنې او ځواب عنوانونه ب- د ځواب پیدا کول
ج- ځوابونه دې زده شي د- په تکراري توګه دې ولوستل شي

## نوټ اخیستل

۱ هدف
الف- تکرارول
ب- هوښیارانه پاملرنه
ج- د ازموینې لپاره دې تکرار شي

۲. قواعد
الف- عمده او مهم نظریات او حقیقتونه ب: مهم لغتونه
ج- ډیګرامونه

## حفظ کول

۱. د هېریدنې علتونه
الف: د دلچسپۍ نه لرل ب- د مهارت نه لرل

۲. قواعد
الف- علاقمند شئ ب- پوه شئ
ج- له کل څخه مفهوم واخلئ د- حافظې ته یې وسپارئ
هـ- د مفاهیمو کلي پیدا کړئ و- د ټولو حواسو استعمال

ح- راتلونکی استعمال ط- تطبیق یې کړئ.

خپل تر مطالعې او لوستنې لاندې فصلونه په یوه پاڼه یا په یوه یومخیزه پاڼه په خپل سبك اوږ لین رالنډ کړئ.

## دریمه وظیفه:

له هر مضمون څخه د ښوونکي او استاد په څېر پوښتنې طرح کړئ... له خپل ښوونکي یا استاد څخه وپوښتئ چې آیا د آزموینې پوښتنې افاقي جوړوي که مقایسوي؟

د مقایسوي پوښتنو په حل کولو کښې لازم دي چې ځوابونه د حقایقو په تنظیمولو سره په منطقي شکل په څو پراګرافونو کښې له پوښتنې سره سم ولیکل شي.

د هرې مقایسوي پوښتنې په ځواب کښې داضروري ده چې لیکوال په مبتکرانه توګه فکر وکړي، مفاهیم تنظیم کړي او د موضوع په توضیح کښې حقایق یو له بل سره په ارتباط کښې وکاروي.

آفاقي پوښتنې په بېلا بېلو شکلونو، لکه: صحیح او غلط، مقایسوي انتخاب او د جملو په بشپړولو جوړېږي، چې هغو ته لازم ځواب د مفاهیمو د تشخیص لپاره ژور فکر او په لنډو کلمو کښې د هغو کارول غواړي.

له دې امله چې په افاقي او مقایسوي آزموینه کښې ځواب ورکول یو له بله سره توپیر لري لازمه ده چې زده کوونکی او محصل د هغو په شکلونو پوه شي.

راشئ چې د دې ډولونو هره یوه آزموینه له نظره تېره کړو، تر څو ولیدل شي چې د هغو شکلونه کوم او په کومه طریقه هغو ته ځوابونه وویل شي.

امکان لري په مقایسوي آزموینو کښې د لاندې شیانو په څېر پوښتنې له تاسې وشي:

<u>الف- مقایسه:</u> د دوو یا ډېرو شیانو تر مینځ ورته والی او توپیرونه توضیح کړئ.

پوښتنه: ځمکه او مریخ سره پرتله (مقایسه) کړئ؟

ځواب: (د دې پوښتنې ځواب په یوه یادوو پراګرافونو کښې امکان لري، مګر د کتنې وړ یو چارټ په شکل دې هم توضیح شي چې د دې دو اړوسیارو په مینځ کښې څه توپیرونه او ورته والي موجود دي.)

<u>ځمکه</u> <u>مریخ</u>

| | | |
|---|---|---|
| شکل | تقریباً کروي | تقریباً کروي |
| قطر | تقریباً ۸۰۰۰ میله | ۴۰۰۰ میله |
| وضعي حرکت (د خپل محور په شاوخوا) | تقریباً په هرو ۲۴ ساعتونو کښې یو ځل | په ۲۴،۵ ساعتونو کښې یو ځل |
| انتقالي حرکت | تقریباً په ۱۲ میاشتو کښې یو ځل | تقریباً په ۲۳ میاشتو کښې یو ځل |
| سطح | نسبتاً ناهواره | نسبتاً ناهواره |
| له لمر څخه فاصله | تقریباً ۹۳۰۰۰۰۰۰ میله | تقریباً ۱۴۰۰۰۰۰۰۰ میله |

ب- څرګندتیایا توپیر: د دوو یا دریو شیانو تر مینځ د توپیرونو پیدا کول.

پوښتنه: دالکترونیکي تخنیك له مخې د راډیو او تلویزیون توپیرونه پیدا کړئ:

| ځانګړني (خصوصیات) | راډیو | تلویزیون |
|---|---|---|
| شکل | وړوکی | لوی |
| د اخذې چټکتیا | ۷۰۰۰ کیلومتره | ۵۰-۶۰ کیلومتره |
| د څپو جوړښت | غږ | غږ او تصویر |

ج- پېژندنه (تعریف): د مفهوم د څرنګوالي بیان او یا په ساده مفاهیمو د یوې کلمې توضیح. ښه داده چې تعریف یا پېژندنه له مثال سره ملګرې وي.

پوښتنه: جمله تعریف کړئ؟

ځواب: جمله هغه افاده ده چې په هغې کښې لغت له خپلې اصلي معنا څخه په غیر اصلي معنا کښې استعمالېږي.

هـ- شرح: د یوې پېښې بشپړ بیان، څرګند او مشرح تفسیر.

پوښتنه: پروتین په بدن کښې ولې ضروري دي......

و- تمثیل: د مثال په واسطه د موضوع څرګندول (واضح کول).

پوښتنه: یو متوازن غذایي رژیم توضیح کړئ.

ځواب: غوښه او پنیر د پروټین د برابرولو، کچالو او ډوډۍ د کاربوهایدراینو لپاره، شیدې او کوچ د وازدې، تازه مېوې او سابه د ویټامینو له پاره، کاني مواد او اوبه د بدن لپاره ضروري دي.

کله چې مقایسوي ازموینه جوړوئ او هغه تمرین کوئ، دا ضروري نه ده چې ځوابونه په بشپړه توګه ولیکل شي. بلکې یوازې د اوټ لین ځوابونه او د جملو پر ځای دې فقرې وکارول شي.

د مقایسوي پوښتنې دغې مثال ته دې، چې د هغې ځوابونو څه ډول اوټ لین کېږي، پاملرنه وشي.

پوښتنه: د ناروې په ژوند کښې ولې نسبت نورو اروپايي هېوادونو ته د بحر شته والی ستر رول تر سره کوي؟

ځواب: هېڅ اروپايي هېواد هغسې نا مساعده ناحیه نه لري.

د ناروې زیاتره برخې بې حاصله دي. د هغې دوه فیصد ساحه د کرنې او زراعت وړ نه ده، د شمالي اتلانتیک طوفان همېشه اقلیم لنده بل (مرطوب) ساتي. بحري بندرونه یې تل د ګاونډیو هېوادونو پر مخ بېرته دي. ارامې اوبه یې د بېړۍ چلوونکو له روزنې سره مرسته کوي، د کبانو د ښکاره لپارره د ځایونو امکان:

له همدې امله د ناروې خلکو بحر او سوداګرۍ ته مخه کړه، د کبانو د نیولو، سوداګرۍ او نورو لپاره یې لویې بېړۍ جوړې کړې.

په خپل یو مضمون کښې یوه مقایسوي ازموینه جوړه کړئ.

احتمالي پوښتنې ځوابونه

........................................

مقایسه

........................................

تمثیل

........................................

تعریف

........................................

توضیح

........................................

لست

.......................................................................................

اوټ لین

.......................................................................................

شرح

.......................................................................................

راځئ وګورو چې آفاقي آزموینه په څه ډول ده.

په دې آزموینه کښې بیانیه پوښتنې داسې لیکل کېږي چې آزموینه ورکوونکی د هغو سموالی او نظم، بشپړونه یا مقایسه له نورو برخو سره تشخیص او حل کوي.

په یوه افاقي آزموینه کښې د پورتنیو پوښتنو ډولونه موجود وي.

ډېره ښه داده چې د هغې د ټولو ډولونو له پاره ځوابونه برابر شي.

د افاقي پوښتنو ډېر ساده قسم په لاندې ډول دی:

صحیح او غلطې پوښتنې:

که چېرې جمله صحیح وي د "ص" له توري څخه او که غلط وي د "غ" له توري څخه دایره چاپېره کړئ.

مثال: "ص" او "غ" له ۱۹۴۹م کال څخه را پدې خوا د کسیام (تایلنډ) رسمي نوم تایلند یادېږي.

انتخابي څلور ځوابه پوښتنې:

لارښوونه: له ورکړل شویو څلورو ځوابونو څخه تر ټولو مهم انتخاب او د هغې له توري نه دایره چاپېره کړئ.

مثال: ټولې فزیکي قوې په اصل کښې الکترو مقناطیسي قوې دي، پرته له دې لاندې یوې شمارې څخه:

| | |
|---|---|
| الف- د جاذبې قوه | ب- د اصطکاک قوه |
| ج- کیمیاوي کشش | د- د ذراتو د تماس قوه |

مقایسوي پوښتنې:

لارښوونې: د ښې اړخ شمارې د کیڼ اړخ له شمارو سره پرتله (مقایسه) او یو د بل مربوطې نمرې د هغو په څنګ کښې ولیکئ:

| | |
|---|---|
| مثال: هایپر بول | ۱. د دوو سره ناورته شیانو په مقایسه د وینا شکل |
| تشبیه | ۲. زیاته مبالغه |

| | |
|---|---|
| استعاره | هغه کلمه یا فقره چې د یو بل شي پر ځای د هغې د تشبیه په غرض استعمال شي. |
| اضداد | څرګنده مفکوره او د هغې توپیر |

بشپړوونکې پوښتنې:

لارښوونې: په لاندې خالي ځایونو کښې داسې کلمې ولیکئ چې ځواب یې سم وي.

مثال: د لرغونې مصر واکمنان د (فرعون) په نوم یادوي.

په یو مضمون کښې یوه افاقي آزموینه جوړه کړئ.

صحیح او غلط:..............................................

درې ځوابه انتخابي:

..............................................................

| | | |
|---|---|---|
| الف________ | الف________ | الف________ |
| ب________ | ب________ | ب________ |
| ج________ | ج________ | ج________ |

مقایسوی:

________________ ________________

________________ ________________

درې شماره ییز بشپړوونکې (تکمیلي)

۱. ________________________________

۲. ________________________________

۳. ________________________________

کله چې آزموینه سرته ورسېده له خپل نوټ سره یې مقابله کړئ او وګورئ چې آیا ټول مربوط ټکي مو شامل کړي دي؟

## څلورمه وظیفه:

مشکلو کلمو ته دې زیاته پاملرنه وشي. مخکینی وظیفې به له تاسې سره په دې کښې مرسته وکړي چې خپل کمزوري ټکی وپېژنئ. د هغه څه چې یادول یې مشکل دي، یو لست بېرون نویس کړئ یایې په شلف کارټونو کښې ولیکئ د هغو په شان چې په څلورم

کېږي. نو لوستونکي ته لازم دي چې له هغو څخه د یادولو او زده کولو په هدفونو او عملیو کښې یوه د بلې بشپړوونکې په څېر په کار راولي.

کله چې مو له دغې طریقې څخه د کار اخیستنی ښه تخنیکونه او لارې چارې زده کړې، کولی شئ چې په لږ وخت کښې زیات معلومات تر لاسه او د تکراري لوستنې مخه ونیسئ. د دغو تخنیکونو زده کولو، هدف نه یوازې د مطالعې او لوستلو د چټکتیا زیاتول دي، بلکه له هغې څخه هم مهمه دا ده هغه څه چې لولئ ډېر ښه به پرې پوهېږئ او زده شوي مفاهیم به ډېر ښه او تر ډېره پوړې ستاسې په حافظه کښې پاتې کېږي. څه شی چې له دې څخه هم ډېر مهم دی دهغه په زړه پورې والي له هغې ودې او پراختیا عبارت دی چې تاسې ته له مطالعې نه پاتې کېږي. زیاتره درسي کتابونه په پوره مهارت په لوړه ښه تنظیم او ترتیبېږي لکه په واحدونو، فصلونو، لویو وړو برخو سره د هغو ویشنه. د کتاب مؤلف یا مصنف هڅه کوي چې د لوستونکي د پوهولو او توضیح لپاره په سره مربوطو برخو د کتاب د ویشلو، فهرست، مقدمه. د پارګرافونو او فصلونو لنډیز، چارټونو تصویري څرګندونو. د نریو او پیړو خطونو او د لیکوالی د منل شویو نخښو او علایمو په کارولو سره داسې طرح او توضیح کړي چې لوستونکی وکړای شي د کتاب د بحث وړ موضوع مهم هدفونه، عمده مفاهیم او ټکي پیدا او زده کړي بر سېره پردې د کتاب لیکوال هڅه کوي چې تر ممکنې اندازې پورې کتاب داسې تنظیم کړي چې د یو وینا کوونکی په توګه له خپل مخاطب سره خبرې او مفاهمه وکړي او کله د یو مخاطب په نقش کښې له وینا کوونکی څخه پوښتنې او کله هم د یو ماهر او پوه وینا کوونکی په څېر اورېدونکي ته ځوابونه ووايي.

د کتاب د لوستونکو په ډله کښې د هغو کسانو شمېر کم دی چې پورتنیو اجزاوو ته متوجه کېږي. او زیات شمېر یې د لوستلو په وخت کښې د مشکل احساس کوي. د دغسې لوستونکو د ناکامی یو علت دا دی چې دوی نه شي کولی له مقدمې، د فصلونو لنډیز، چارټونو او توضیحاتو څخه سم تحلیل او استفاده وکړي. نو له همدې امله په هماغه لومړیو کښې له ستونزو او مشکلاتو سره مخامخ کېږي.

د دې له پاره چې د دغه ډول مشکلاتو. د وخت او انرژۍ دضایع کېدو مخنیوی وشي لازمه ده چې لوستونکی لومړی د علایمو له سیستم. د کتاب کلي جوړښت او د هغې د لیکلو پر هدف او په کتاب کښې د مفاهیمو د توضیح پر سبك او روش باندې ځان پوه کړي.

دغه کار د لوستلو د وظیفې له لومړیو مرحلو څخه دی چې مقدماتي سروې نومېږي او لوستونکي ته دا ښیي چې کُل له جز او اجزا له کل سره څه ډول ارتباط لري.

فصل کښې يې يادونه شوې وه. بايد په ياد ولرئ هغه څه چې په لست او يا کارډ کښې ليکئ په لوړ يا ورو غږ يې تکرار او حفظ کړئ او په تکراري توګه يې د کاغذ پر مخ و ليکئ.

که چېرې وخت لرئ هر ټکی په لوړ يا ورو غږ د ليکلو پر وخت تر هغه تکرار کړئ چې په تمامه معنا ډاډه شئ چې نور مو نه هېرېږي. ځکه چې داروا پوهنې د تجربو له مخې تر اندازې زياته زده کړه له بشپړې زده کړې څخه غوره ده. کوم عمده او مشکل ټکي مو په آزموينه کښې راوړي چې بايد د پورته مثال په څېر ياد شي.

.....................................................................................

تمرين يې کړئ او حافظې ته يې وسپارئ.

## پنځمه وظيفه:

د آزموينې د راسبدو تر وروستيو شيبو پورې هڅه او کوښښ وکړئ. کله به مو آزموينې ته په تياري نيولو کښې د هغې له راتګ څخه تر يوې شپې د مخه پورې پرله پسې هڅه کړې وي او له اندازې زيات به مو ميخانکي يادول (حفظ) تر سره کړي وي. چې موږ هر يو ښايي يو يا څو ځله دا کار کړی وي.

امکان لري پوه شئ چې اشتباه موکړې ده. بايد د لوستلو پروګرام ته مو د آزموينې د را رسېدو تر وروستيو شيبو پورې پرله پسې ادامه ورکړې وای. که چېرې تاسې د ازموينې په شپه له اندازې زيات يې خوبه شئ او د شپې تر ناوخته پورې درس ولولئ، امکان لري سبا د آزموينې ورکولو لپاره چمتو ونه اوسئ، نو هغه دليل چې زه يې تاسې ته د دې لپاره پېشنهادوم چې تر وروستيو شيبو پورې له هڅو او کوښښ نه لاس مه اخلئ، څه دئ؟

علت دادی چې د هغه مضمون په لوستنه کښې چټکتيا چې آزموينه يې ورکوئ بايد محض د مخکښې زده شويو عمده ټکيو د بيا تکرار لپاره وي، نه دا چې اصلي موضوع له سره ولولئ او زده يې کړئ.

که چېرې د آزموينې درارسېدو تر وروستيو شيبو پورې په لوستلو کښې ستاسې هڅه او تکرار د دې فصل د مخکښنيو پېشنهادونو په اساس وي دا روا پوهنې (روانشناسۍ) له مخې به موزده کړه اغېزمنه او ګټوره وي. زيات شمېر زده کوونکي د امتحان لپاره ميخانيکي زده کړه او موقتي يا دول له ډېرو مهمو تخنيکونو څخه ګڼي. په داسې حال کښې چې دغه ډول يادول غير واقعي زده کړه ده او د آزموينې په تېرېدو سره دغه ډول زده کړه هم له زده کوونکی سره خدای پاماني کوي او په دماغ کښې يې ډېرې لږې اغېزې پاتې

کېږي. د ازموینې له را رسېدو څخه تر مخکښې شیبې پورې دې د میخانیك کولو کوښښ وشي، ډېرې مشکلې کلمې دې تکرار او حافظې ته وسپارل شي اوله معمول سره سم د نورو شپو په څېر د ازموینې په شپه ویده شئ. تر څو ستاسې په ذهن کښې هغه څه چې لوستي مودي په ښه او روښانه توګه کښېني.

## د ازموینې لپاره چمتووالی ته یوه عمومي کتنه

١. د ازموینې لپاره لوستلو ته یو تقسیم اوقات جوړ کړئ.
٢. د هغه څه چې باید ولوستل شي یو لنډ اوټ لین جوړ کړئ.
٣. د خپل یو مضمون لپاره ازموینه جوړه او هغه حل کړئ.
۴. مشکلو کلمو او جملو ته دې ځانګړې پاملرنه وشي.
۵. هڅه وکړئ چې د ازموینې د رارسېدو تر وروستیو شېبو پورې تکرار وکړئ.

# په ازموینه کښې بریالیتوب

هیله ده چې په تېر فصل کښې ازموینې ته د چمتوالی د څرنګوالي په هکله په څه پوهېدلی یاست. که چېرې تاسې د دې رسالې د لومړۍ برخې د اوټ لین جوړونې وظیفې تطبیق کړې وي. په هغه صورت کښې به وکړای شئ چې په پوره ډاډ سره خپل مورد نظر مضمون ولولئ او له وارخطایۍ څخه وژغورل شئ، او هغې ته چمتووالی تر لاسه کړئ. پر مضمون پوهېدنه ستاسې د ازموینې دکار یوه برخه ده. تاسې باید په دې پوه شئ چې د پوښتنو ځوابونه څنګه برابر کړئ. نور بېلا بېل کارونه هم شته چې باید تر سره شي، تر څو له عادي نمرو څخه لوړې نمرې واخیستلای شئ. د هغو ځینې په پیل کښې د پوښتنو عاقلانه انتخاب او د ځوابونو تنظیم او له غلطیو څخه ډډه کول دي.

## مقایسوي پوښتنو ته ځوابونه لیکل:

### لومړۍ وظیفه:

په لارښوونو کښې تر مهمو کلمو لاندې خط وکاږئ. د ازموینې د لارښوونو لوستل او پرې پوهېدل د ازموینې لپاره ډېر مهم دی. د پوښتنو پر حل کولو له پیل څخه د مخه د ازموینې ټول محتویات ولولئ او پر هغې له پوهېدنې څخه ځان متیقن کړئ. په پوښتنو او

لاربښوونو کښې له مهمو او عمده کلمو لاندې خط وکاږئ. دغه د مهمو او عمده کلمو لاندې خط ایستل په ازموینه کښې ستاسې پاملرنه جلبوي، فکر او ذهن مو روښانه کوي او تاسې ته د دې توان درکوي چې ازموینه په ډاډمنه توګه پیل کړئ. که چېرې د پوښتنو په مفهوم کښې په څه شي نه یاست پوهېدلي، له خپل مربوطه ښوونکي او استاد څخه یې د معنا پوښتنه وکړئ. په ټولو پوښتنو او لاربښوونو له پوهېدونه پرته باید د پوښتنو حل کول پیل نه کړئ.

زیاتره داسې کېږي چې په ازموینه کښې ډېرې پوښتنې شوې وي، خو ټولې باید حل نه شي له هغو څخه یو شمېر انتخاب او حل غواړي. که چېرې تاسې لاربښوونې په غوره سره ونه لولئ، په دغه صورت کښې به له ټاکل شوي وخت سره سم په انتخاب او د بشپړو ځوابونو په لیکلو کښې وروسته پاتې شئ او له هېلې سره سم به نمرې تر لاسه نه کړای شئ. فرض کړئ چې یوه ازموینه لس پوښتنې لري او په لاربښوونه کښې ویل شوي وي چې د هغو له جملې څخه درې پوښتنې انتخاب او حل کړئ. لطفا تر هغې جملې لاندې، چې پکښې ویل شوي دي دلسو پوښتنو له جملې څخه درې انتخاب او حل کړئ، خط وکاږئ.

په لاندینیو لاربښوونو کښې مهم او عمده کلمې په نخښه کړئ (د هغو لاندې خط وکاږئ).

الف- دوه لومړۍ او یوه بله پوښتنه انتخاب او حل کړئ.

ب- لومړۍ پوښتنې ته په بشپړه توګه او بلې پوښتنې ته د اوو لین په شکل ځواب ووایئ.

ج- (۱)، (۲) او (۳) درېمه نومره پوښتنې ته په مشرح او (۴) نمرې ته په لنډه توګه ځواب ووایئ.

د- دوو لاندنیو پوښتنو او یوې بلې ته چې پخپله یې جوړوئ، ځواب ووایئ، دې مثال ته چې تر مهمو او عمده کلمو لاندې یې خطونه کاږل شوي دي، پاملرنه وکړئ. په تکراري توګه لوستل او له یادو لوستل د ښه والي راوستلو د اصولو (یادته راوستلو د اصولو) په توګه مقایسه کړئ.

په پورتني مثال کښې مقایسه کلمه مهمه ده چې باید ترې لاندې خط وکښل شي. معنا یې داده چې ورته والي او توپیرونه یې پیدا کړئ.

په پورتنۍ پوښتنه کښې باید په یادو لرو چې تکراري لوستنه له په یادو لوستنې څخه له عمومي نظره نه، بلکه محض "یاد راوستلوته د ښه والي ورکولو د اصول په توګه" مقایسه کړئ، په پام کښې ونیسئ.

نو خپل ځان په دې متيقن کړئ چې د پوښتنې له غوښتنې سره سم ځواب برابر کړئ- که چېرې په خپله پارچه کښې د پوښتنې له غوښتنې سره سم ځواب ونه ليکئ ښوونکی او استاد به مو دا احساس کړي چې ښايي تاسې نه ياست پوهېدلي او يا مو پوښتنې په بې پروايئ سره حل کړې دي. نو په همدې اساس تر مهمو او عمده کلمو لاندې خط کښل به د دغسې ممکنې اشتباه مخه ونيسي.

## دويمه وظيفه:

د هرې مقايسوي پوښتنې ځواب اوټ لين کړئ. ډېرو اسانو پوښتنو ته په لومړۍ مرحله کښې ځواب ورکړئ. د مقايسوي پوښتنې د ځواب عمده ټکي پيدا او هغه د مورد نظر ځواب په ارتباط په لنډه توګه اوټ لين کړئ. د ښوونکي او استاد په اجازه بايد دا کار له اصلي پارچې پرته په يو بل کاغذ، چې بايد له تاسې سره د مخه موجود وي، تر سره کړئ.

## درېمه وظيفه:

د ازموينې وخت په پام کښې ونيسئ.

په مقايسوي ازموينه کښې له ليکلو څخه د مخه لازم دي چې په دې پوه شئ چې کولی شئ د هرې پوښتنې د حل لپاره څومره وخت بايد ولرئ. (ښه داده چې د خپل لاس په ساعت کښې د هرې پوښتنې وخت اټکل کړئ) امکان لري د ازموينې په پيل کښې د لومړۍ، دويمې او درېمې وظيفې د سرته رسولو لپاره لس دقيقې وخت ته اړتيا ولرئ. او پنځه دقيقې په پای کښې د ځوابونو د تصحيح لپاره وکاروئ.

د دغو دقيقو مجموعه (۱۵ دقيقې) د ازموينې له اصلي وخت څخه تفريق کړئ او پاتې د هر يو ځواب د حل په تناسب په پام کښې ونيسئ.

داسې بايد ونشي چې په څو لومړيو پوښتنو کښې ډېر وخت او په پاتې پوښتنو کښې لږ وخت بې تناسبه مصرف شي. مګر دا چې د موضوع د اهميت او ظرفيت له مخې د زيات وخت مصرفېدل ايجاب کړي.

ځينې وختونه د ازموينې لارښوونې هم د ځانګړو پوښتنو د حل لپاره د زيات وخت څرګندونه کوي.

## څلورمه وظیفه:

د هرې موضوع لپاره نوی پاره ګراف ولیکئ.

کله چې د خپل مخکیني اوټ لین په پیل سره د ځوابونو په لیکلو شروع کوئ، لاژمه ده چې ځوابونه واضح او لنډ ولیکل شي. مطلوب منطقي ترتیب او تنظیم هم مهم دی. په دې کار کښې اسانه طریقه داده چې د هر یو ټکي لپاره نوی پاره ګراف ولیکل شي.

که چېرې هغه پاره ګراف چې لیکئ یې زیات مفاهیم او ټکي ولري، ستاسې ښوونکی ښایي دا فکر وکړي چې تاسې خپل ځانته ډېر تکلیف نه دی ورکړی او په ژوره توګه مو فکر نه دی کړی، ښه داده چې موضوع مهمه وګڼئ.

## پنځمه وظیفه:

ځوابونه ولولئ او تصحیح یې کړئ.

کله چې مو ټولې پوښتنې حل کړې، ځوابونه په تکراري توګه ولولئ. تر څو نیمګرتیاوې او غلطۍ یې اصلاح شي. کوښښ وکړئ چې دې کارته پنځه دقیقې تخصیص ورکړئ.

# دافاقي ازموینې اخیستل:

## لومړۍ وظیفه:

خپل ور کړل شوی وخت په پام کښې ولرئ. په یوې چټکې کتنې سره کولی شئ د ازموینې له شکل اوچوکاټ نه خبر شئ او د برخود شمېر او د پوښتنو په تناسب دوخت ظرفیت اټکل کړئ، مشکلو او دزیاتو نمرو لرونکو پوښتنو ته زیات وخت وباسئ.

څو دقیقې د لارښوونو او پوښتنو په لوستنه تېرې کړئ.

## دویمه وظیفه:

په لارښوونو کښې تر مهمو کلمو لاندې خطونه وکاږئ.

## دریمه وظیفه:

افادې په ډېر غور او احتیاط ژورې بررسي کړئ.

## څلورمه وظیفه:

**د ازموینې په ټولو موادو کښې تر عمده مفاهیمو لاندې خط وکاږئ.** کله کله کېدای شي د ډېرې چټکتیا او له اندازې زیات ډاډ له امله د ازموینې ډېر مهم مواد ستاسې له نظره وغورځېږي. نو له همدې امله په ازموینه کښې ځان تر مهمو ټکیو لاندې په خط کښلو عادت کړئ. دا کار د دې سبب کېږئ چې تاسې هره کلمه په دقیقه توګه ولولئ تر څو دا ځانته معلومه کړئ چې کومه کلمه مهمه ده چې ترې لاندې باید خط وکښل شي.

## پنځمه وظیفه:

اسانو پوښتنو ته لومړی ځوابونه ورکړئ.

د افاقي پوښتنو په حل کولو کښې ازموینې ورکوونکي ته دوه هدفونه موجود دي:

١. تر ممکنه حده پوښتنو ته ځوابونه ورکول.
٢. پوښتنو ته په سمه او صحیح توګه ځواب ورکول.

په افاقي پوښتنو کښې چې ځوابونه هر څومره ښه او سم وي په هماغه اندازه به ستاسې نمرې زیاتې وي. له همدې امله په ممکنې چټکتیا سره پوښتنې ولولئ. د لوستلو په وخت کښې امکان لري هغه نامانوسې او مشکلې کلمې چې په لومړي مخ کښې راغلي په وروستیو مخونو کښې اسانه ښکاره شي او یا یې مفهوم په هغه ځای کښې توضیح شوی وي. دا کلمې د ازموینې په حاشیو کښې په نخښنه کړئ.

په افاقي ازموینه کښې هره پوښتنه خپلې ځانګړې نمرې لري او کله کله د ازموینې مشکل مواد د نورو برخو په شان نمرې لري، که چېرې ازموینه اوږده وي، امکان لري نمرې یې هم زیاتې وي، چې د پوښتنې د نه حل کولو په صورت کښې به نمرې له لاسه ورکړئ. نو د هغو له شمارو څخه په یو کښې باید ډېر دقت او زیات وخت تېرنه کړئ. دا وظیفه به له تاسې سره دا مرسته وکړي چې د پېشنهاد شویو تخنیکونو په اساس د ټاکل شوي وخت په چوکاټ کښې تر ممکنې لوړې اندازې پورې نمرې واخلئ. د دې بل علت چې لومړی باید اسانې پوښتنې حل کړئ دا دی چې امکان لري دغه پوښتنې په ضمني توګه دوروسته مشکلو پوښتنو په حل او پوهېدنه کښې مرسته وکړي. تجربو ښودلې ده چې په ډېر لږ توپیر هر ښوونکی او استاد اسانې پوښتنې په پیل او د لوستل شویو موادو له لومړۍ برخې نه او بیا په ترتیب سره هغه مشکلوي. په دې ترتیب دلوستل شو موادو له مخې د اسانو او

مشکلو پوښتنو تر مینځ یو تسلسل او ارتباط هم موجود وي، چې د اسانه پوښتنې حل کول قسما د مشکلو پوښتنو له حل سره مرسته کوي.

که چېرې تاسي فرضا د دې پوښتنې په ځواب نه پوهېږئ باید څه وکړئ؟

د سکرو اساسي اجزاوې عبارت دي له.............. دا چې تاسې د دې پوښتنې په ځواب نه پوهېږئ بې له ځنډه بلې پوښتنې ته ځئ، تر څو وګورئ چې وضعیت څه ډول دی. دا پوښتنه داسې پیل شوې ده: دګرافیتو عمده اجزاوې عبارت دي له:

الف- پلوټونیوم ب- تنګستن ج- کاربن د- سلیکان

تاسي له دې پوښتنې څخه پوهېږئ چې کاربن د سکرو اصلي او اساسي عنصر دی. اوس نو په دې دوهمه مرحله کښې هماغه ناحل پوښتنه چې تاسې ته مشکله ښکارېدله، دادې په دې مرحله کښې یې تاسې ته ځواب روښانه شو. تاسي کولای شئ کاربن په هغه خالي ځای کښې، چې د ځواب ځای دی، ولیکئ. که چېرې تاسې په هماغه لومړي پوښتنه کښې توقف کړی وای، لړو ډېر وخت به مو ضایع کړی وای، بیا مو هم نشول کولی ځواب پیدا کړئ.

## شپږمه وظیفه:

د ازموینې هر مواد په سلیم عقل او کلي بشپړې پوهې تعبیر کړئ. په هره اندازه چې تاسې په افاقي ازموینه کښې ژوره پاملرنه وکړئ، په هماغه اندازه به په ښه توګه د هغې په مفهوم پوه شئ، چې ستاسې ښوونکي به هم ښایي هغسې نه وي متوجه شوي.

## اوومه وظیفه:

پوښتنې باید له مربوطو ځوابونو سره مقابله او په غور او دقت ولوستل شي. ښه داده چې د ازموینې پارچه له ټاکلي وخت څخه پنځه دقیقې مخکښې سرته ورسېږي، تر څو چې د املایي او انشایي غلطیو د سمون او د هرې پوښتنې او ځواب د مقایسې او نوې کتنې لپاره لازم فرصت تر لاسه شي. د غو پېشنهاد شویو کړنلارو ته دې پاملرنه وشي:

١. د ازموینې هر مواد او پوښتنې او ځوابونه باید په دقیقه توګه ولوستل شي تر څو د پوښتنود صحیحوالی او سموالی څخه ډاډ تر لاسه شي.

# د ازموینې د تمرین په هکله د خپل ځان ازمایلو ارزیابي

خپل وخت مو په پام کښې نیولی؟ هو نه

تر مهمو کلمو او لاربښوونو لاندې مو خط کښلئ؟ هو نه

اسانو پوښتنو ته مو لومړی ځواب ورکړی دی؟ هو نه

مهمې افادې مو په غور، دقت او احتیاط سره بررسي کړې دي؟ هو نه

د ازموینې مواد مو په بشپړې پوهې او سلیم فکر تعبیر کړي دي؟ هو نه

د ازموینې ځوابونه مود املایي- انشایي غلطیو د سمون په خاطر بیا لوستی دي؟ هو نه

د ازموینې په تمرین کښې خپل ځوابونه په دې لاندې کلي مقابله کړئ:

د ازموینې اخیستلو موضوع ته یوه لنډه کتنه

مقایسوی ازموینه:

۱. د لاربښوونو تر مهمو کلمو لاندې خط وکاږئ.
۲. ځوابونه اوټ لین کړئ
۳. خپل وخت په پام کښې ونیسئ.
۴. د هر مهم ټکي له پاره نوی پاره ګراف پیل او ولیکئ.
۵. خپل ځوابونه سم ولولئ.

افاقي ازموینه:

۱. خپل وخت په پام کښې ونیسئ.
۲. د لاربښوونو تر مهمو ټکیو لاندې خط وکاږئ.
۳. افادې په ډېر غور، احتیاط او دقت له نظره تېرې کړئ.
۴. د ازموینې په هره برخه کښې مهمې کلمې تشخیص کړئ.
۵. اسانو پوښتنو ته لومړی ځواب ورکړئ.
۶. د ازموینې مواد په بشپړې پوهې او سلیم فکر تعبیر کړئ.

۷. خپل ځوابونه ولولئ، چې که املايي- انشايي غلطۍ ولري، چې هغه اصلاح شي.

په پای کښې ګرانو لوستونکو ته زېری ورکول کېږي چې کـه چېرې د دغـې رسـالې د لارښوونو سره سم د پخپله زده کړې او چمتووالي په خاطر ازموينه عياره کړي، بيا بـه نـو دا جمله چې: " ناپليون له ازموينې ويرېدلی دی" د هغوی په نزد بې مفهومه وي.

خو څه شی چې له هغې نه بايد ويره ولرو:

هغـه د ازمونـې پـه مقابل کښې د چمتووالـي نيمګړتيـاوې او نابلدتيـاوې دي، نـه دا چې پخپله ازموينه.

(پای)

PROPERTY OF ACKU

PROPERTY OF ARIC Established 1989

## د لیکوال پېژندنه:

| | | |
|---|---|---|
| نوم | : | سید محمد ابراهیم بامیانی. |
| د زیږېدو کال: | | ۱۳۲۲ لمریز، یکاولنګ، بامیان. |
| زده کړه | : | د نایك لومړنی ښوونځی، د کابل دارالمعلمین، د کابل د ښوونې او روزنې پوهنځی، د امریکا د کلمبیا په پوهنتون، جاپان، لبنان او پخوانی شوروی اتحاد کښې. |
| دنده | : | د ښوونکي د روزنې او کابل پوهنتون د زده کړې د روانشناسی او د یونسکو په مرکز کښې د انګلیسي استاد؛ د افغانستان له باره د ملګرو ملتو د بیړنیو مرستو د سره اندولولو د اداري کار کوونکی. |
| آثار | : | تاریخي افسانې او د زده کړې د موادو برابرول. |

مقدماتي سروې د لوستلو د وظیفې لپاره په دې مفهوم دی چې لوستونکی د کتاب د تنظیم او ترتیب څرنګوالی او یا د هغې یوه برخه داسې له نظره تېره کړي چې د متن. او د کتاب د لیکلو د هدف او مفهوم یو عمومي تصویر او سستماتیکې لوستنې او مطالعې څخه د مخه د هغې په هکله لنډ معلومات تر لاسه کړي، ځو چې د وخت د ضایع کېدو مخه ونیول شي او هم د کار په کیفیت کښې زیاتوالی مینځته راشي.

## لومړی وظیفه:

د کتاب د موضوعاتو فهرست له یو ځل نه زیات ولولئ. په مقدماتي سروې کښې لومړی مرحله د کتاب د فهرست کتل دي.

د کتاب فهرست دا ښیي چې د کتاب متن څه ډول طرح شوی دی. د فصلونو تنظیم او ترتیب څنګه دی او د هر عنوان رابطه له فصلونو سره څه ډول ده. د هر فصل په لوستلو کښې دې فهرست ته یو ځل مراجعه وشي. د مثال په ډول تاسې ته وظیفه درکړل شوې ده چې د کتاب د یو فصل. چې د کتاب په لوستنه کښې ماهرانه تسلط موندنه نومېږي، مقدماتي سروې وکړئ.

مخکښې له دې څخه چې کتاب سروې کړئ. ښه داده چې د مندرجاتو فهرست په دقیقه توګه وګورئ په دې کار سره به پوه شئ چې دغه فصل د کتاب د څلورو فصلونو له جملې څخه دی چې عمده عنوانونه یې داسې سره مشابه دي. څه ډول د ماهرانه تسلط موندنې له مخې د درسي کتاب په لوستلو کښې د لوستلو مقدماتي سروې، یادداشت اخیستل او حافظې ته سپارل زده کړئ.

په دغسې یو شان والي پوهېدنه به له تاسې سره دا مرسته وکړي چې دغه څلور فصلونه په سمه توګه پیشګویي کړای شئ. وروستني فصلونه به په تدریج سره تاسې ته دروښيي چې د یو درسي کتاب د لوستلو د ماهرانه تسلط موندنې تخنیک د ګزارش په لیکلو او لوستلو، غوږ نیولو. د ازموینې تیرولو او د لوستلو او زده کولو نورو ډولونو سره ارتباط پیدا کوي. د کار دغه طریقه د هر ډول ضرورت وړ کتاب په لوستلو کښې چې څه ډول په اسانۍ سره عنوانونو ته متوجه شو او د کتاب د طرح او عمومي نظم او ترتیب په هکله معلومات تر لاسه کړو. د دې سبب ګرځي چې په لوستلو کښې خپل هدف، لوری او جهت وټاکئ او حتی که د کتاب د کوم فصل یوه برخه هم ولولئ، باید د هغه ټول فصل مقدماتي سروې وکړئ. اوس نو په عملي توګه کولی شو د لوستلو د مهارت هغه تدریجي عملیه چې تاسې ته وظیفه سپارل شوې او هغه له مقدماتي سروې څخه شروع کېږي. داسې پیل کړو:

B
6.40
BAM
7875
cp.1

د اریک گرځنده کتابتون
ځواکمن
د اکبر د اطلاعاتي او نشراتي منابعو مرکز

د اریک د ګرځنده کتابتونونو د خپرونو لړۍ
پرله پسې نومره ۹

- د مضمون نوم: .......................................
- د کتاب عنوان چې د لوستلو وظیفه په هغه پورې مربوط ده: ..........
- د لوستلو لپاره د کتاب ټاکل شوې برخه ..............................
- د کتاب د موضوعاتو د فهرست هغه برخه دې چې د لوستلو د کار په وظیفې پورې ارتباط لري، یادداشت واخیستل شي.
- ځو ځو ځلې د کتاب د متن د موضوعاتو فهرست وګورئ او نور فصلونه چې له مخکې فصل سره مشابه وي، مشاهده کړئ.
- چې د وروسته فصلونو کومه مرحله یا مرحلې له موضوع سره ارتباط پیدا کوي.......................................
- د موضوعاتو د فهرست له مخې، په یوې یادوو جملو کښې ولیکئ چې د کتاب د دغې برخې له لوستلو څخه به څه- څه زده کړئ؟

..........................................................................

## دویمه وظیفه:

د کتاب د برخو عنوانونو ته وګورئ او مقدماتي اوټ لین ولیکئ. د درسي کتابونو هر فصل، په برخو او هره برخه کوچنی عنوان لري. د مثال په ډول په دې فصل کښې کوچني عنوانونه په لاندې ډول دي:

لومړۍ وظیفه: د موضوعاتو فهرست ولولئ.

دویمه وظیفه: د برخو کوچني عنوانونه وګورئ او مقدماتي اوټ لین جوړ کړئ.

دریمه وظیفه: د کتاب د هر فصل لومړی او وروستی پارګراف ولولئ.

څلورمه وظیفه: بصري وسایل او عکسونه له نظره تېر کړئ.

پنځمه وظیفه: څه شي چې موتر اوسه پورې زده کړي دي، فهرست یې جوړ کړئ.

نه یوازې په مقدماتي سروې کښې، بلکه د کتاب په هره برخه کښې د ماهرانه لوستنې د تسلط موندنې د تخنیک، مهمه وظیفه دا ده چې عمده کلمې او مفاهیم باید یادداشت شي او د کوچنیو عنوانونو او مفاهیمو د کلمې په لټه کښې اوسو. دغه کار د مطالعې او لوستلو او د لغاتو د ذخیره کولو پیل دی. د مثال په ډول که د لوستلو په متن کښې یو کوچنی عنوان د حکومت په باره کښې وي او داسې شروع شي: "ائتلافي حکومت" که چېرې تاسې د حکومت په هکله معلومات ونه لرئ، د ائتلاف په مفهوم به ونه پوهېږئ. دا کلمه یوه اصطلاح ده چې باید یادداشت شي.

د یو درسي کتاب، چې اوس ورځخه استفاده کوئ، کوچنیو عنوانونو ته وګورئ. د یو کوچنی عنوان یا نا مانوس لغت مثال وړاندې کړئ. دا دی اوس د دغه فصل دیو مقدماتي اوړ لین مثال وګورئ (البته هر لوستونکی به بنایي اوړ لین په بېله بڼه جوړ کړي).

## درسي کتاب

په مقدماتي سروې کښې عالي تخنیکونه:

۱. د موضوعاتو فهرست دې په غور سره وکتل شي.
۲. مقدماتي اوړ لین دې جوړ کړای شي.
۳. د یو فصل لومړی او وروستی پارګراف دې ولوستل شي.
۴. له بصري وسایلو او شکلونو څخه دې کار واخیستل شي.
۵. فهرست او آزمایښت دې (څه- څه شیان مې زده کړي دي) په یاد راوستل شي.

په دغه مخ کښې د هغه درسي کتاب د یو فصل مقدماتي اوړ لین چې د لوستلو له پاره مو ټاکلي دي، ولیکئ:

مثال ........................................................................

## دریمه وظیفه:

د مطالعې لاندې فصل لومړی او وروستی پارګراف ولولئ. د مقدماتي سروې له مرحلو څخه یوه دا ده چې د فصل لومړی یا وروستی پارګراف یا د هماغه فصل له سیستماتیکې لوستنې څخه د مخه، له هغې څخه مخکینی فصل ولوستل شي.

په زیاترو درسي کتابونو کښې د لیکوال مهارت په دې کښې وي چې د بحث وړ موضوع په یو فصل کښې د هماغه فصل په پیل کښې معرفي کوي او په پای کښې یې په تکراري توګه د هماغه موضوع په باره کښې د یو پاراګراف او کله کله په درې یا څلورو پرګرافونو کښې د هماغه فصل لنډیز وړاندې کوي. نو باید چې د خپل تر سروې لاندې فصل وروستي درې یا څلور پارګرافونه ولولئ.

که چېرې دا تخنیك رعایت نه شي په عوض کښې به یې لوستونکي ته د اهمو او مهمو ټکو په هکله دوه درې پوښتنې را مخې ته شي. د دې فصل درې لومړنی پارګرافونه ولولئ. دغه پارګرافونه به تاسې ته توضیح کړي چې د کتاب د فصل په موثره او اغېزمنه لوستنه کښې له عالي تخنیکونو څخه څه ډول استفاده وشي.

# فهرست

**سرلیک** **مخ**


سریزه ............................................. ۱

له درسي کتاب څخه استفاده ............................. ۵

باید د لوستلو وظیفې له پوښتنوسره ...................... ۱۹

د لغاتو په ذخیره کښې د لوستلو ونډه ..................... ۲۱

نوټ اخیستل ...................................... ۲۲

د تسلط موندنې تخنیکونه ............................ ۲۴

د زده شویو موادو ښه یا دول............................ ۲۷

حافظې ته د سپارلو روشونو ته لنډه کتنه ................. ۳۶

د مطالعې د مهارت پرمختګ او پراختیا ...................... ۳۸

د مطالعې د پراختیا په اړه یو عمومی نظر ................... ۵۰

د ازموینو له پاره چمتو والی .......................... ۶۱

په ازموینه کښې بریالیتوب ............................ ۷۱

د ازموینې د تمرین په هکله .......................... ۷۷

# زده کړو، چې ور زده کړو!

سید محمد ابراهیم بامیاني

[illegible]

[illegible]
[illegible]

[illegible]

# زده کړو چې ور زده کړو

PROPERTY OF ACKU

لیکوال

سید محمد ابراهیم بامیاني

PROPERTY OF ARIC
Established 1989

۱۳۷۷

د کتاب نوم : زده کړو چې ور زده کړو

لیکوال : پوهنمل سید محمد ابراهیم بامیاني.

ژباړونکی : سید محی الدین هاشمی.

کمپوزکوونکی : زکی الله رفیع

خپروونکی : د اریک گرځنده کتابتون اداره

د خپرېدو کال : ۱۹۹۹\۱۳۷۸

د چاپ ځای : پېښور

بسم الله الرحمن الرحيم

اریك له دوو کلونو راهیسې د افغانستان بېلا بېلو ولایاتو ته د ګرځنده کتابتونونو د لېږلو پروګرام جوړ کړی دی؛ ګرځنده کتابتونونه د اوسپنیزو صندوقونو په بڼه جوړ شوي، د هېواد په یوه برخه کښې په یوه ځانګړي ځای کښې اېښودل کېږي، د سیمې خلك راځي کتابونه په امانته توګه اخلي، لولي یې خپلو شاوخوا نالوستو کسانو ته یې اوروي، بیا یې بېرته راوړي او په بدل کښې یې بل کتاب اخلي او په دې ترتیب په سیمه کښې د کتابتون ټول کتابونه لوستل کېږي او بیا دا ګرځنده کتابتون یوې بلې سیمې ته وړل کېږي.

موږ هڅه کړې دې کتابتون ته داسې کتابونه راغونډ کړو چې له یوې خوا یې ژبه ساده او اسانه او له بلې خوا د خلکو د استفادې او اړتیاوړ خبرې او مطالب ولري او له دوی سره د دوی په روان ژوند کښې عملي مرسته وکړي، لکه د کرنې، لاسي کارونو، چرګانو روزنې او نورو چارو کښې.

موږ په دې ترڅ کښې د اسروي هم کوو چې خلك نورو کومو آثارو او کوم ډول موادو ته اړه لري، چې په دې لړ کښې مو د دوی ګټې غوښتنې او د اړتیا وړ مواد لست کړل خو متأسفانه په دې برخه کښې مو کتابونه ونه موندل چې د دوی په

لومړی

ګرځنده کتابتونونو کښې یې ځای پر ځای کړو.

د دې تشې د ډکولو له پاره مو یو کال وړاندې "یو نو چا" ته وړاندیز وکړ چې مالي مرسته وکړي او موږ د دې ګرځنده کتابتونونو له پاره په خپله یو شمېر د اړتیاوړ کتابونه چاپ کړو او د خلکو غوښتنو ته په خپل لاس د عمل جامه ورواغوندو. هغوی زموږ وړاندیز ومانه او یو موټې پیسې یې راکړې. موږ د دې له پاره چې کار سیستماتیك او ښه ګټور شي دې کار ته د تهیې یوه ډله و ټاکله چې هم زموږ د ادارې غړي پکښې دي او هم د هېواد یو شمېر مجرب او له دې کار سره علاقمند لیکوال او مؤلفین. چې په ګډه به کار کوي، د اړتیا وړ کتابونه به یا په خپله او یا د هغو لیکوالو په وسیله چې په ټاکلې موضوع کښې تخصص او مهارت لري، تهیه کوي او د کتابونو د پلانګذارۍ، تهیې، چاپ او وېش ته د چمتو کېدلو ټول پړاوونه به یې په ګډه پر مخ بیایي. دا ډله د افغانانو له خواخوږې میرمن نانسي دوپرې، حبیب الله رفیع، سر محقق زلمی هېواد مل، حسین فخری، محمد فهیم رحیمیار او محمد رفیع څخه جوړه ده.

موږ د هېواد په کلیو، بانډو او ښارونو کښې د ګرځنده کتابتون له ټولو ګرانو لوستونکو څخه هیله کوو چې خپلې اړتیاوې، غوښتنې او پوښتنې راولېږي او دهېواد له ټولو پوهانو او عالمانو څخه هیله لرو چې په دې لاره کښې را سره مرستې شي څو په دې برخه کښې له ښه نه ښه کتابونه وړاندې کړای شو!

په درنښت

"د اریك ګرځنده کتابتونونو اداره"